منبع الجهاد

علمي،جهادي مياشتنی خپرونه

دکابل دمزدوررژیم ددوام لومړنی علت دجهادي قیادتونو بې اتفاقي
اودمجاهدينو ترمنځ دواحدې نظامي اوسياسي ستراتيژي اوادارې په
رابطه ستونزې اوله مقاومت سره دمرستو کموالی دی .

« الحاج حقاني »

مـجاهـدين بايد دکفري طاقتونو په
وړاندې متحد اوپياوړی دريځ غوره
کړي .

الحاج مولوي نظام الدين « حقاني »



احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah

افغان ولس
دويرې اواميد ترمنځ

دخلـيج
دجـګړې په اړه
دجهاددقوماندانانو
دشوراا اعلاميه

دافغانستان جهاد دکمونيزم
دماتې پيلامه

دافغانستان جهاد دکتاب
په هنداره کې

انصارشاعران

الهي فرمان

ژباړه : په زمانه قسم ، انسان په حقيقت کې په لوی تاوان کې دی ، پرته له هغو خلکو چې ايمان يې راوړی اوښه عملونه کوي ، اويوبل ته دحق نصيحت اودصبر ښودنه کوي .

دالعصر سورة

کمپوزر: احمدضيا «ذهين بابري»

منبع الجهاد

علمي ، جهادي میاشتنی خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین « حقاني »

دتأسیس کال : ۱۳۶۸ هـ ش ، ۱۴۰۹ هـ ق

دوهم کال ، اتمه گنه ، د۱۳۶۹ هـ ش ، سلواغه ، د۱۴۱۱ هـ ق ، رجب المرجب

په دې گڼه کې

شمیر	عنوان	مخ
۱:-	سرمقاله	(۲)
۲:-	افغان ولس دویری او	(۵)
۳:-	جمهوري های محکوم روسیه	(۸)
٤:-	دافغانستان جهاد دکمونیزم دماتی	(۱۲)
۵:-	دروسانو تاریخي ماته	(۱۵)
٦:-	دافغانستان جهاد اواستعماري	(۲۰)
۷:-	رواني اقتصادي ستونزي اود	(۲٤)
۸:-	په افغانستان کی دروسانو	(۲۹)
۹:-	دخلیج دجگړې په اړه دقوماندانانو	(۳۲)
۱۰:-	دکابل رژیم ددوام ... (الحاج حقاني مرکه)	(۳۳)
۱۱:-	مجاهدین باید دکفري	(۳۵)
۱۲:-	جهاد دشعراوادب په پلوشوکي	(٤۱)
۱۳:-	ومي لیدل (تکل)	(٤۳)
۱٤:-	پرېښتو ادب دافغان جهاد	(٤٤)
۱۵:-	انصارشاعران	(٤۷)
۱٦:-	ولسي ادبیات	(۵۱)
۱۷:-	دافغانستان جهاد دکتاب په	(۵۳)
۱۸:-	دغوایي له کودتاراوروسته	(۵۷)
۱۹:-	راغلي لیکونه	(٦٦)
۲۰:-	ابدي ژوندي	(۷۰)

دهیئت تحریرترنظر لاندې

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳)

یونیورستي تاون - پیښور

دتیلفون نمبر: (٤۱۷٤٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

دروسی پوځونو دشرمیدلی ماتی ددوهمی کلیزی په اړه :

دوروستي برې په لور نوی اوپاخه قدمونه

کله چی دوه کاله مخکی له افغانستان څخه دروسی پوځونو ایستل پیل شول په کابل کی د۱۵۰ هیوادونو ژورنالستانو ددغه په اصطلاح نه ماتیدونکی پوځ اوپه شانه تلونکی انقلاب دشرمیدلی ماتی ننداري ته ولاړوو. دغه وړدکمونیزم دوحشیانه اقتدارپه تاریخ کی دالومړی ځل و چی روسی وینی څښونکی اوبرغلگرپوځونه دشکست له پیغورسره په شاتگ ته مجبوربړی اواعتراف کوی چی پر افغانستان تیری یوه داسی ستره غلطي وه چی نه یواځی دکمونیزم نظریاتی اډانه یې دړې وړې کړه،بلکی دروسي امپراطوری دبقا ستنې یی هم ونړولی .

دروسی پوځونو دوتلو پروخت ددغو وحشی لښکرو قوماندان گروموف په اوښلنو سترگو اوالوتی بڼه په اصطلاح ددوستی !! پرپله له تیریدو وروسته خبریالانو ته وویل :

دادی زه له افغانستان څخه بیرته راوگرځیدم ، دراتلو پروخت ماهیڅ شاته ندی کتلی موږدافغانستان له جگړې یودرس واخیست اوهغه داچی بیابه دنړی په هیڅ هیواد دیرغل حماقت تکرارنه کړو .

کله چی یونیم کال وروسته دامریکا دبهرنیو چارو وزیر بیکر دروس له خارجه وزیر شواردنادزی څخه وغوښتل چی که روس دخپلو پوځونو یوه وړه ډله هم دخلیج په لور واستوی دابه دصدام دتیری پرخلاف اعلان شوی گواښ نورهم پیاوړی کړي خودروس دبهرنیو

چارو وزیر وویل : موږ ته داکارممکن ندی دافغانستان دجګړې ترخې خاطرې لازموږ له یاده ندی وتلي .

شواردنادزې لدی مخکی هم دروسیی دعالي شورا په یوه غونډه کې پدی اعتراف کړی ؤ چی پرافغانستان دیرغل له امله یې نه یواځې داچې ټوله نړۍ دځان مخالفه وګرځوله بلکې ورسره یې خپل نظریاتی بنیادونه هم دړې وړې کړل .

دادهغو اعترافاتو یوه څنډه وه چی روسی واکمنو دافغانانو دبریمن جهاد اومثالی مقاومت له مخې ورته اړه ولیده اوروسان یې له خپل ټول وحشت ، استعماری قوت اوپراختیا سره سره له داسی بدې ورځې سره مخامخ کړل ، چې اوس یې نړۍ دکاغذی زمرڅواک په نوم پیژنی او ورو ورو دنړیوال سیاست له محورڅخه لیرې کیږي .

روس نن په خپلو کورنیو لانجو اوستونزو کی داسی ښکیل دی چی کیدی شی روانه کړکیچنه وضعه اوراتلونکی ریفرندم یې په جغرافیا هم دګواښ توری لړې خپری کړی اودافغانستان دجګړې له امله خوږلی ناسور ټپ یی هیڅکله هم روغ نشی . خودهمدغه نړیوال استعماری قوت په مقابل کی دافغانستان فاتح او قهرمان ولس چې دکمونیزم دوحشت اواستبداد زولنې یې دړې وړې اوپه نړۍ کی دآزادی غوښتنی دپیغام ترانی وغږولی دخپلو وینو اوقربانیو ثمری ته لا درسیدو په تکل کی لګیا دی تیندکو نه خوری - هغه ملت چی نړۍ ته یې دآزادی ګټلو عملی درس اوالهام ورکړاوددوی د سرښندنو له برکته آزادی اوخپلو حقوقو ته ورسیدل لاتراوسه دوینو په سمندر کی دساحل په لارخپل یون جاری ساتی .

دروسی پوځونو له شرمیدلی ماتی دادی دوه کاله تیرشول هغه وخت هیچاهم دافکرنه کاوه چی دروسی پوځونو له دغه ډول شرمیدلی شکست وروسته به دنجیب لاس کینولی رژیم دمجاهدینو دسوین موقف په وړاندې خپل مخ په زوال موجودیت وساتلی شی .

هو ! افغان مجاهد ولس له روسی وحشی پوځونو سره دیوی لسیزی خونړۍ اونابرابرې جګړې ترخوپیښو، تاوانونو اوقربانیو دومره ستومانه نه کړلکه دروسی پوځونو له شکست وروسته چې دبن بست اورکود منځ ته راغلی حالت وکړول او وزمولول .

ددې فاجعې ددوام علتونه که هرڅه وګنو اوبهرنی عوامل یې وشمیرو خوبیا هم اصلی عامل یې هغه داخلی ناپسامانی اومشکلات دی چی زیاترو یې دمقاومت دقیادتونو له سیاستونو

اواجرآتوځخه سرچینه نیولی اوهغه دمقاومت په سطحه په سیاسی اونظامی لحاظ دیوی واحدی اداري او ستراتیژی دنشتوالی نیمګړتیاده کومه چی په هماغه لومړیو کی یی له منځه وړل اوحل ضروری خبره وه .

دروسی پوځونو له شرمیدلی ماتی سره جوخت دیوه داسی پاخه او نوښتګرو قدم اوچتول په کاروچی هم دنړیوالو په سطحه منلی او اساسی نقش ولوبوی اوهم دولس دآرمانونو دتحقق په لارکی دهغوی قناعت حاصل کړی شی .

خوو‌شول ددی برعکس اوهغه داچی په یوه کمزوری اوضعیف چوکاټ کی دداسی یوه حساس ، اساسی اوحیاتی ضرورت ادانه کیښودل شوه چی وروسته یی نه داچی پرمختګ ونشو کولی بلکی دشکونو ، اوابهاماتو لړۍ یې هم راخوری کړی اوواټونونه یی نورهم زیات کړل .

اوس چی دروسی پوځونو له وتلو څخه دوه کاله مخ په پوره کیدو دی دانقلاب له پاره دداسی نویواو پخوقدمونو اوچتول ضروری اوتکمیل اوتعقیب یی حیاتی بریښی چی دمجاهدینو دټولو قوتونو ترمنځ په واحدډریځ ، واحدی اداري،واحدی ستراتیژی اوبالاخره واحد قیادت منتج شی.دغه ستر اواساسی هدف ته رسیدل په هیواد کی دننه دمجاهدینو دقوتونو دسرتاسری یووالی اوشورا له لارې کیدی شی چی له ښه بخته دقوماندانانو دسرتاسری شورا په دایره کی دافعالیت پرمخ روان دی داهغه وروستنی امید دی چی که دفعالانه حرکت په مخه کی یی ستونزی اوخنډونه پیدانشی کړی،نه یوازی داچی موجوده رکود به له منځه یوسی بلکی دجهاد په سیاسی اونظامی اړخونو کی به دیوه نوی تحرك اوغورځنګ بهیر ګړندی اوپراخ کړی .

ومن الله التوفیق

افغان ولس دوېرې اوامید ترمنځ ...!

هدایت الله « هجرت »

سیاسي تبصره

دوه کاله دمخه چې پدې ورځوکې زموږله وطنه دروسي تاراکګرو لښکروونل بشپړیدل ، دهغوی عمومي قوماندان له خپلې وروستۍ قطعې سره له افغانستان نه وتلو ، دامو په پله ودرید ، په خواشینۍ یې دافغانستان په لوري راوکتل اوبیاوروسته یې وویل : « بیا به کله هم موږ افغانستان ته رانشو ».

دایوه لنډه جمله ده ، خو یوکې دتاریخ دیوې خونړۍ معرکې داستان پروت دی پدې جمله کې دیوې خوفناکې جګړې دنتیجې داعلان خبره شوې ، داجمله دیوې مغرورې اوهیبتناکې امپراطورۍ دماتې اوزوال اعلامیه ګڼلای شو اوداجمله ددښمن په خوله دافغان مجاهد اوننګیالي قام دبې سیاله عظمت اوشانداري فتحې ابلاغ ؤ.

دپورتنۍ خبرې دکولو ترنیټې نهه کاله دمخه چاته په خوب کې هم نه ورتله چې دوحشي روسانو هغه مغزونه به چې دمحرومو ملتونو له ولچك اوزولانه کولو ، خپلو اوږلو پرته پکې بل سوچ نه تیریده یوه ورځ پدې مجبورېږي چې تصمیم یې دافغانانو په ځیریوه بې وزله قوم دارادې په مخ کې وسله کیږدي ، اوچاپه خیال کې ورتیریده چې هغه شونډ ې چې تل یې دملتونو دترلو اوږلو غلبلې کولې یوه ورځ به په خپلو مغرورولښکروباندې دبې وسه افغانانو دشانداربري واقعیت زمزمه کړي حقیقت دادی چې دا په رښتیاني مفهوم یوه معجزه وه چې خدای (ج) غوښتله اودافغانانو په لاسونو یې وکړه.دوه کاله دمخه دغه ورځې وې چې نورزموږ له هیواده دروسانو وتل بشپړیدل .

خوداخبره یوازې زموږ تروطنه محدوده نه وه ، تردې ډیره لویه وه چې دجغرافیاپولې یې رااېساره کړي اوخودبه هم داسې نه کیدل .

ددوایدیالوژیو دتصادم نتیجه راوتلې وه ، یوه مفکوره ماته شوې وه دایوازې دیوه اردو ماتې نه وه ، دیوه نظام ، یوې امپراطورۍ یوه نظریې ، یوه بلاك اویوه دوران شکست ؤ یوازې په افغانستان کې داسلام دسوبې دامیدونو ځوړنه ؤ بلکې په ټوله نړۍ کې دیوه خونریزمستبد نظام دکبرډبرجونو درنګیدو جشن ؤ ، دټولنو اوځنځیرونو دماتیدو شور ؤ ، دبیلتون اواستبداد دیوالونه

راپریوتل اودتول اسلامي امت دوګرو په زړونو کې دنویو ارزوګانو دیوې بلیدې .

افغانانو ته خوخودهم لویه خوشحالي وه ، دخدای (ج) لوی نصرت یې په برخه شوی ؤ له هیواده یې هغه لښکرې وتلې وې چې تراوسه یې له بل هیڅ ځای نه پل په شانه ؤاخیستی مګرخوشحالي یې له یوه ژورغم اویوه تاوجن دوك سره هم مله وه ، داغم اودوك یې دکنډوالو وطن ؤ دشهیدانو دلویولویو هدیرو ، دلکونو پرهارژلیو ، کونډو ، اوبوروداسویلو اودلکونو یتیمانو داوښکو اوسلګیودتیرو جنایاتو اووحشتونو دروانسوزو خاطرو اوبالاخره دزړه ریږدوونکو فراقونو اوبیلتونونوؤ .

خوړښتیا خبره ده چې هغه امید اوارمان دیر لوی ؤ کوم چې دروسي پوځونو له وتوسره تړلی ؤ هغه تول غمونه اودوکونه هیرول ، هغه امید داؤ چې له وطنه به مو دروسي یرغلګرو له وتوسره سم دبدنامو اوجنایتکارو کمونستانو حکومت نسکوریږي ، جګړه به ختمیږي ، هیواد ته به مو سوله راځي اسلامي حکومت به جوړیږي دبشپړې خپلواکۍ بیرغ به مو پورته کیږي او یو خپلواك متحد اوله اسلامي اوانقلابي شوکت نه برخمن افغانستان به جوړیږي ، هغه چې دیوه فاتح هیواد په توګه به په سیمه اونړۍ کې دنوي نقش اونوي رسالت پوره کولو ته اوږه ورکوي اودخپل توکر توکرملت دزخمونو تکور اودترقۍ اوسعادت تأمین ته به ملاتړې.دروسانو دوتودبشپړیدوپه وخت کې به دهرافغان په سترګو کې دپورتنیو لوړوهیلو پوره کیدل مجسمیدل٬دانه خوشباوري وه اونه احساساتي سوچ،نجیب اولوړرتبه ملګرو یې دتیښتې وروستی تیاری نیولی ؤ یواځې په اصطلاح دبخت یوه ازمویښت ته ایسارؤ روسانو دنجیب دړژیم له بقا نه داخري امیدونو بستره هم تولیدو ته نژدې کړې وه .

امریکا له خپلې هغې تولې دلچسپۍ سره سره چې دنجیب له بقا سره یې درلوده اوله خپلې تولې هغې دښمنۍ سره سره چې دمجاهدینو دحکومت دجوړیدو له مخنیوي سره یې درلوده ، له دې ویرې چې شاید دروسانوله خروج سره سم دمجاهدینو دپریکنده بري مخه نیول ممکن نه وي ، له ځانګړي احتیاط نه کارواخیست ، له موږ نه هم چا دنجیب نسکوریدل دشیبو خبره ګڼله چادساعتو اوچادڅوورځو اوشپو خوداده نن ۲٤ میاشتې پوره کیږي چې دنجیب

امریکا له خپلې هغې تولې دلچسپۍ سره سره چې دنجیب له بقا سره یې درلوده اوله خپلې تولې هغې دښمنۍ سره سره چې دمجاهدینو دحکومت دجوړیدو له مخنیوی سره یې درلوده ، له دې ویرې چې شاید دروسانوله خروج سره سم دمجاهدینو دپریکنده بري مخه نیول ممکن نه وي ، له ځانګړې احتیاط نه کارواخیست ، له موږ نه هم چا دنجیب نسکوریدل دشیبو خبره ګڼله چادساعتو اوچادڅوورځو اوشپو خوداده نن ۲٤ میاشتې پوره کیږي چې دنجیب لړزانده رژیم پرځای پروت دی ، اوپاس مسوچې د خپل ولس کومو ارزوګانو ته اشاره وکړه هغه نه یواځې پوره شوې ندي بلکې په سرېې دابهام اومایوسۍ وریځې خپرې شوي دي

● لوه کاله دمخه چی پدی ورځوکی زموږله وطنه دروسی تاړاکګرو لښکروو تل بشپړیدل ، دهغوی عمومی قوماندان له خپلی ورروستی قطعی سره له افغانستان نه وتلو ، دامو په پله وډرید ، په خواشینی یی دافغانستان په لوری راوکتل اووروسته یی وویل : « بیا به کله هم موږ افغانستان ته رانشو ».

لړزانده رژیم پرځـــای پروت دی ، اوپاس مـوچې د خـپل ولس کـومـو ارزوګـانو ته اشـاره وکـړه هغـه نه یواځې پوره شـــوی ندی بلکې په سـريې دابهـام اومـایوسی وریځې خپرې شوي دي دباشهامته خلکو یوه مـــشـــخـــصــــه داهم ده چې پرحـقایقـو اوواقعیتـونو داعتـراف حـوصله لري کـه مـوږدامـشـخـصـه خپلوونوباید په صـراحت ووایو چې داځلور ویشت میـاشتې پرله پسې زموږ داسلامي انقـلاب اومسلمـان ملت سرنوشت دبی ابتکاری برکوډ ، بی تحــرکی اودمـــســـولیت دنه احـساس دحـالت اوروحـیی منګولو . ته پریښـــودل شـــوی دی اول خـوزمـوږله خـوا دکـوم مظبـوط ، سنجول شوی اوپه یوه مشخصه او معینه سـتـراتیژی ولاړابتکار کولو مظاهـره ډیره وځنډیده که بیـا څـه شـوي هـم دي نو دهراړخـيـزی

نیمګړتیاله امله یی مطلوب اومعقول اغیزته صدمه رسیدلی داخومسلم حقیقت دی چی حالات اوشرایط په یوه نقطه نشی دریدای ، زمـا نه حـرکت کـوی بروانه ده بدلیـږی اواوړی رااوړی ، ددی مـنـطـقـی نتـیـجـه داوه چی کله دحـالاتو اوشـرایطو دکنتـرول اواوښـتـون ابتکارزموږ له لاسه وتلی یا ابتکار مطلقاً ددښمن لاس ته لویدلی اوکه دښمن هم ابتکار په لاس کی نلری اوحـالات په تپه ولاړوی بیـا خـو یو داده چی داحالت هم په ګلکه زموږ په تاوان دي ځکه موږفتـحه غواړو اوځـــان فـــاتح ګڼو اومطلق رکـود زموږ له دی غوښتنی سره په تضاد کی دی ، اوهم داده چی لکه مخکی مـــو چی وویل دا په تپـــه دریدو حالت زیاته ادامه نشی کولای دابه حتماً تغیر مومی که دښمن ډیر فـعـال وی اوموږ په ځـای ناست

طبـعی ده چی دارکـوډ به دهـغـه په لاس ماتیږی اوددی معنی داده چی هغـه به دحالاتو ابتکار په لاس کی اخلی .

دااوس چی زمـوږ په انقـلاب ده نه شکست نه بری » کوم حالت واکمن دی ، داســـخـت زمـــوږداهدافـــو اوارمـــانونو دتحـــقق په تاوان دی ، داچی څــــه عـــوامل وو، کـــومی نیمګړتیاوی اوکومی خامی وی چی داحـالت یی رامنځ ته کړی اوزمـوږ وروسـتی فـتـحـه یی له لویو ګټونواوختونو سره مخامخ کړی بیل بحث غواړی مګر پدی کی شك نشـتـه چی پدی برخـه کی جـهـاد دقیـادتونو مسؤلیت ډیردروند دی اوس هم لاوخت شته ، که ښه جدی اومسؤلانه غورونی اوپه مضبوطو اقـدامـاتو لاس پوری شی کـیـدای شی حالات مطلوب لوری ته واړوی واقعیت دادی چی ستونزی ډیری شوی دي .

ښی زیاتی ډیری.کــــه حـــالات هـمـذاسی پریښــودل شـی شـایـد دهـغـه وخت رارسـیـدل ډیرځنډونه غواړی چی بیـا به هری قربانی ته چمتو کیږو اوډیرو څه کولو ته به تیاریو ، خوناوخته به وی اوبی وخته به وی .

جمهوری های محکوم روسیه استقلال میخواهند

سمیع الله « تازه »

باناکامی مذاکرات گرباچف رئیس جمهور روسیه باروسای جمهوری های این کشور درباره چگونگی ارتباط جمهوری های مذکور با مسکو ونوعیت ازادی وخود مختاری انهاءادامه وحدت اجباری روسیه بیش ازپیش مورد شك وتردید قرارگرفته است.

گرباچف بدنبال وخامت اوضاع درجمهوری های بالتیك (لیتوانیا . لاتویا . واستونیا) که دراثر عملیات نظامی قوای پاراشوتی روسیه دران جمهوری ها تعدادی هلاك وتعدادی نیز مجروح شدند روسای جمهوری ها روسیه رابه مسکوفراخواند تاازیکطرف خشم انها رانسبت به عملیات نظامی مسکو علیه مردم ملکی درجمهوری های بالتیك فرونشاندوازطرف دیگر به اعتراضات بین المللی نسبت باین عمل نظامی شوروی عکس العمل دیموکرات مابانه نشان داده باشد .

مردم جمهوری های لیتوانیا ، لاتویا واستونیا به ازادی های نسبی وسطحی قانع نبوده بلکه خواهان استقلال کامل ازمسکو میباشند زیرا انها ادعا دارند که قبل ازجنگ دوم جهانی کشور های مستقل بوده وتحت فشار واختناق وسازش های ناجایز بین المللی ضم خاك روسیه شده اند .

اگربه تاریخ این سه جمهوری نگاهی انداخته شود ساحه انها قبل ازجنگ جهانی اول گاهی مستقل وگاهی نیز جزقلمرو روس وزمانی نیز جز قلمرو المان و پولند بوده است اما بعد ازجنگ جهانی اول کشورلیتوانی درفبروری ۱۹۱۸ام برهبری شورای ملی انکشور اعلام ازادی نمود اما بزودی ناگزیر گردید که باروسها و المانیها که بربخشی ازخاك این جمهوری ادعای مالکیت

داشتند بمبارزه برخیزد ، جرمنها درسال ۱۹۱۹ م ازان جمهوری خارج گردید ولیتوانی به ازادی رسید.

جمهوری لاتویا نیز برهبری شورای ملی انکشور درنوامبر ۱۹۱۸ م ازادی خود رااعلام کرد درجنوری ۱۹۱۹ روسهاوبعد المانیهاوارد این جمهوری گشته "ریگا" مرکز انرا متصرف شدند تااینکه درفرجام باانکشور درجون ۱۹۲۰ جرمنها ودراپریل ۱۹۲۰ روسها قراردادصلح رابه امضاٌ رسانیدند.

شورای ملی استونیا نیز در۲٤فبروری ۱۹۱۸ م استقلال کشورخود رااعلام داشت اما درنوامبر همانسال المانیها قصد نمودند تااستونیا را جز قلمرو خود سازند ولی پس ازشکست مجبور به ترک ان شدند ، روسها نیز درهدف مشابه ناکام گردیده ودرسال ۱۹۲۰ بااستونیا قرارداد صلح رابه امضاٌ رسانیدند.

بااینترتیب استقلال این سه جمهوری درزمان بعد ازجنگ جهانی اول تسجیل یافته ودرسال ۱۹۲۱ م روسیه بلشویکی باسه جمهوری مذکور قراردادهای تجارتی واقتصادی رابه امضاٌ رسانیدکه بااین عمل خود استقلال وتمامیت ارضی این سه جمهوری راطبق قانون بین الدول وسیاست برسمیت شناخت.

حیات سیاسی این سه جمهوری تازمان جنگ دوم جهانی ادامه یافت وبحیث کشورهای مستقل تقریباٌ بیش ازبیست سال درقرن جاری زنده گی کردند اما درزمان جنگ دوم جهانی این منطقه بازهم میان روسها وجرمنها به یك نقطه قابل توجه مبدل شد.

وهتلربه قیمت عدم دخالت روسیه درجنگ این سه جمهوری رابه روسها واگذار گردید.درجنگ خونین جهانی دوم ساحه مذکور همه تحت زنجیرهای تانك هاوپاشنه های لشکر نازی قرارگرفت وهم زیر ضربت قشون وقوای اردوی سرخ روس.

بااین ترتیب درطول جنگ جهانی دوم خسارات فراوان مالی و جانی به این سه جمهوری وارد امد ، ودرتعین سرنوشت نیز همانگونه محکوم واقع شدند وروس ها بااعتبار دادن قرارداد میان دودکتاتور ستالین وهتلر سه جمهوری بالتیك راجز خاك

> مردم جمهوري هاي ليتوانيا ، لاتويا واستونيا به ازادي هاي نسبي وسطحي قانع نبوده بلكه خواهان استقلال كامل ازمسكو ميباشند زيرا انها ادعا دارند كه قبل ازجنگ دوم جهاني كشورهاي مستقل بوده وتحت فشارواختناق وسازش هاي ناجايز بين المللي ضم خاك روسيه شده اند

خویش نمودند وباین شکل چهل ویک سال دیگر راتحت اسارت رژیم وحشتناک کمونستی مسکو بسر بردند.

بافروریزی ماشین هیبتناک اما فرسوده وکهنه کمونیزم تمام آن خواست ها وارزوهای ملت های تحت ستم مسکو که وحشیانه تحت دکتاتوری بیرحمانه به اصطلاح دکتاتوری پرولتاریا سرکوب وخفه ساخته شده بودند یك یك سربلند نمودند که درین زمره نهضت ازادیخواهی مردم جمهوری لیتوانیا ، لاتویا واستونیا نیز شامل میباشد.

تااعلان استقلال خود راپس بگیرند ومسکو با ملاحظه به جنبش های استقلال طلبی درجمهوری

نمود.

درکنفرانس اخیر گرباچف نتوانست به روسای جمهوری ‌های مذکور قناعت بدهد بناءً

حکومت روسیه درلیتوانیا مجبور به اقدام نظامی گردید

مردم جمهوری های مذکور به فریبکاری ها ونیرنگهای سیاسی گرباچف باری نخورده بلکه بخاطر استرداد استقلال غصب شده شان به دادن قربانی حاضر اند.

گرباچف ازرهبران جمهوری های بالتیك تقاضا نموده

های بالتیك ،گرجستان ، یوکراین ، ملداویا ، ازبکستان ، تاجکستان ، اذربایجان وسایر مناطق که اقلیت هادران خواستار حقوق مختلف می باشند همه پرسی سراسری درروسیه رابرگزاری خواهد

مذاکرات شان به ناکامی انجامید. این وضع میتواند به مردم تحت ستم کمونیزم روسیه بفهماند که حق خودرا بامقابله بازوربابد بگیرند جمهوری های متشکله شوروی هریك دارای تاریخ سنن وفرهنگ مستقل بوده

وستم کمونیزم درطی بیش ازهفتاد سال تمام غنای مادی ومعنوی انها را به تاراج برده همه ملیت ها راعملاً به فقر اقتصادی وفرهنگی مواجه ساخته است

جنبش ازادی خواهی جمهوری های بالتیک باتحرک ونیروی قوی باحمایت تمام مردم انجا پیش میرود ومردم جهان نیز با بیاد داشت تاریخ واستقلال این جمهوری ها ازحق ازادی خواهی انها حمایت وپشتیبانی می نمایند چنانچه اخیراً کشورهای غربی مخصوص رهبران امریکا والمان تصدیق نمودند که جمهوری های بالتیک درزمان قبل ازجنگ دوم جهانی کشورهای مستقل بوده اند لذا درین امر هیچ شک وتردید باقی نمی ماند که سه کشورلیتوانیا . لاتویا واستونیا درفرجام جنگ جهانی دوم برخلاف میل وارزوی مردم انجا تحت اسارت کمونیزم دراوره شده اند وامروز باتمام قوا باین اسارت وزنده گی پر ازحقارت درزیر یوغ کمونیزم را(نه)میگویند .

اطمینان است که مردم جمهوری های مذکور وسایر مردم تحت ستم کمونیزم مسکو با ادامه مبارزه ومقاومت قهرمانانه وبا قبول قربانی ها به پیروزی حتمی نایل شده گلیم منحوس وضد بشری کمونیزم راازمناطق خویش جمع می نمایند .

حق داده نمیشود بلکه گرفته میشود .

بافروریزي ماشین هیبتناك اما فرسوده وکهنه کمونیزم تمام ان خواست ها وارزوهاي ملت هاي تحت ستم مسکو که وحشیانه تحت دکتاتوري بيرحمانه به اصطلاح دکتاتوري پرولتاریاسرکوب وخفه ساخته شده بودند یك یك سربلند نمودند که درین زمره نهضت ازادیخواهي مردم جمهوري لیتوانیا ، لاتویا ، واستونیا نیز شامل میباشد

درمسکو به طرفداري ازازادیخواهان لیتوانیا تظاهرات صورت گرفت

دافغانستان جهاد

دکمونیزم دماتې پیلامه

دوحدت لیکنه

دافغانانو په مقابل کي دروسانو اوکمونستي بلاك ماتي او رسوايي دنړۍ په ټولو کمونستي گوندونو عام اثر وغورځاوه اودشلمي پیړۍ اتیاومه لسیزه چي دافغانانو اوروسانو دمقابلي لسیزه وه دکمونیزم دزوال لسیزه هم ویلل شوه دروسانو ماتي دختیځي اروپا لویدیزي اروپا، امریکا، لاتیني امریکا، افریقا اوآسیا په کمونستي گوندونو کي دماتي هنگامه خپره کړه اودافغانستان جگړي دکمونیزم لپاره دچلیدو ټولي لاري بندي کړي ، دافغانانو دمقاومت په پیل سره دکمونیزم زوال هم موازي پیل شو ، کمونستانو په ټوله نړۍ کي نفوذ له لاسه ورکړ اوولسونه په تیزي سره له کمونیزم راوگرزیدل .

گرانو لوستونکو!
په لاندنیو کرښو کي چي تاسو کوم مطلب لولي په هغه کي دنړۍ پر کمونستي گوندونودافغانستان دجهاد اغیزي مسئله څیړل شوي اودامسئله پکي ښه روښانه شوي چي دافغانستان جهاد اودروسانو ماته دکمونیزم دماتي پیلامه وه ، دمقالي زياتره احصائيي مستندي دي اودکمونستانو له خپلو خپرونو څخه اخستل شوي چي دادي ستاسو مخي ته یې یږدو.
«اداره»

تردي چي ډیر کمونستي رژیمونه چپه شول اوډیر کمونستي گوندونه لغوه اوځینو هم خپلو نومونو اومرامونو ته تغیر ورکړ .

دافغانستان دجهادله پیل سره دکمونیزم دتزلزل پیل اوس دهیچا لپاره دشك خبره نده اوزموږدعصر په یوه څرگند واقعیت بدل شوي .

دافغانستان له جهادوروسته دنړیوال کمونیزم له سقوط حتي دکمونستي گوندونو رهبران هم سترگي نشي پټولاي دافغان جهاد په پیل سره په ډیر کم وخت کي په ختیځه اروپا کي کمونستي گوندونه له قدرت څخه دمخالفینو په ځاي ودریدل اوله هغو هم اخوا حتي په زیاتو ملکونو کي کمونستان نژدې په پارلمانونو کي نمایندگان تلري دتیر کال داحصائيي له مخي په ختیځه اروپا کي دکمونستي گوندونو دغړیو شمیر ۴۰ په سلو کي کم شوي .

په ۱۹۷۸ کال کي چي په افغانستان کي روسي کمونستي کودتا قدرت ونیو اودکمونیزم اواسلام مقابله پیل شوه بیا

> **په روسیه کې دکمونست گوند انحصارپای ته ورسید اودگورباچوف دپروسترویکا پروگرام دکمونیزم دعملي اوڅرگندي ماتې یو بل ثبوت دی**

تر۱۹۸۹ کال پوري چي روسي سره پوځونه په کامله توگه دافغانستان په جگړه کي مات شول پدي دوران کي په ختیځه اروپا کي دکمونیزم دقدرت گراف هم ناڅاپي راټیټ شو اونږدي ۳۰۰ زره تنو ځوانانو دایټالیا دکمونستي گوند غړیتوب پریښود .

په ۱۹۷٦کال کي دایټالیا کمونست گوند دهغه هیواد په انتخاباتو کي ۳٤ په سلو کي رایي ترلاسه کړي ولي په ۱۹۸۳ کال کي چي کمونیزم دافغانستان په جگړه کي دمتجاوزځواك په توگه وپیژندل شو.

دایټالیا کمونست گوند په انتخاباتو کي یوازي ۲۹ په سلو کي رایي یووړي اوداعدد په ۱۹۸۸ کال چي نورروسي کمونستان په افغانستان کي عملاً اونظراً مات شول ۲۱ په سلو کي ته راټیټ شو

دفرانسي کمونست گوند تردي هم زیات کمزوري شوي اوس دهغه دغړیو شمیر یوازي ۱۵۰ زره دي چي دڅو کالو پخوا په نسبت دري چنده کم شوي اوس په فرانسه کي یوازي ۸ په سلو کي کارگران اودمنځني طبقي خلك دکمونیزم سره زړه نازړه طرفداري لري .

دهسپانیي کمونست گوند چي په

۱۹۸۲ کال کي له سره جوړشو ، اوس یوازي ٤،٦ په سلو کي چوکي په پارلمان کي لري اوځوځله یي انشعاب کړي دي .

دبلجیم دکمونستانو اتحادیي نورونشواي کړاي چي دهغه ملك په پارلمان کي کومه چوکي ترلاسه کړي ، داطریش ،انگلستان ، ایرلند ، ناروي اولویدیز جرمني کمونستي گوندونو په عامه انتخاباتو کي تریو فیصد هم کمي رایي گټلي اونورددي هیوادونو په پارلمانونو کي نمایندگان نلري ، دامریکا دکمونست گوند غړي مخ په کمیدو دي اوپه ټوله کاناډا کي اوس دکمونستانو شمیر په سختي سره دوه زره تنو ته رسیږي .

داسترالیا دکمونست گوند په فوق العاده کنگره کي دتیر کال په ډسمبر کي پریکړه وشوه چي نورکمونستان خپل فعالیتونه ودروي چي شاید ددي کمونست گوند رسمي لغوه کول په روان کال کي اعلان شي .

په مرکزي اولاتینه امریکه کي

دکمونستانو وضعه ورته حالت لري په روسيه کي دکمونست گوند انحصارپاي ته ورسيد

دکمونست په نامه دوراندي کيدو جرأت هم نشي کولاي په دريمه نړۍ کي ټول کمونستي گوندونه نه

په ١٩٧٦ کي دايټاليا کمونست گوند دهغه هيواد په انتخاباتو کي (٣٤) په سلو کي رائې ترلاسه کړي ولي په ١٩٨٧کي چي کمونيزم دافغانستان په جگړه کي دمتجاوز ځواك په توگه وپيژندل شو دايټاليا کمونست گوند په انتخاباتو کي يوازي (٢٩) په سلو کي رائې يوړلي اوورستيو کي (٢١) په سلو ته راټيټي شوي

اودگورباچوف دپيروستريکي پروگرام دکمونيزم دعملي اوځرگندي ماتي يوبل ثبوت دي روسي نشرات اوس دروس د١٩١٧ کال دلينن انقلاب يوه اشتباه گڼي چي روسانو ته ددي اشتباه دوړپه گوته کولو اساسي عامل له افغانانو سره سرساموونکي ټکر وو.

دکمونستي گوندونو اکثره پوهان پدي نظردي چي دروسي سيستم اوکمونستي گوند ماتي دټول نړ يوال کمونستي جنبش زړ ونه و ايستل ، په آسيا کي کمونيزم دورکيدو په حال کي دي په هند کي کمونستان اوس يومطرح سياسي قوت نه دي اوپه پاکستان افغانستان اوايران کي ځوک

يوازي لا راوايډيالوژي بدلوي بلکه دخپلو گوندونو پخواني نومونه نورشرم اوننگ گڼي اوهغو ته ملي نومونه ورکوي ، اوغواړي خپلو ولسونو ته بيرته ورنږدي شي اوپه ټولنو کي ځانونه دوب کړي ، ولي تراوسه هم په ولسونو کي دکمونستي گوندونو غړيو ته ځاي ورکولو په هکله درايو توافق نشته ، داروپا له ٢٣ کمونستي گوندونو

څخه اوس يوازي ١٢ گوندونه څه ناڅه نيم ژواندي سياسي موجوديت لري اوپاته يي تس نس شوي دي دکمونستي بلاك دناکامۍ لپاره ممکن گڼ علتونه وي ولي حتي په کريملن کي هم پدي هکله هيڅ شك نشته چي افغاني جگړه دروسي سيستم اوکمونيزم دزوال پيلامه اواساسي عامل وو ټوله نړۍ په دي قانع ده چي که دکمونيزم مقابله اسلام نه واي کړي دبل چا په وس پوره نه وه .

دکمونيزم دزوال کوم ارقام چي موږدلته ذکرکړل شايد ترددي هم لوړوي ولي موږدکمونستانو ماتي دهغوي له خپلي خولي درنو لوستونکو ته رانقل کړه پورته ارقام ټول له مسکو څخه دخپريدونکي اونيزي مجلي NEW TIMES په ٣٧ گڼه کي تاييد شوي اوخپاره شوي دي .

د روسانو تاریخي ماته

لیکوال : محسن فاراني

ژباړن : شهریار

برتانوي ورځپاني اکانومست په خپلي یوی گنې کی ۱۹۸۹ ع کال یو تصفیه کوونکی کال بللی اولیکي :

د ۱۹۸۹ کال یوي غتي غلطۍ اومکتب ته په تکان ورکولو سره شروع شو دلینن جوړکړای شوی کمونستي نظام چي دیوه گوند دواکمنی اوپه یوټاکلي دولاړژوند څخه عبارت دی دشرقي اروپا په دیروځایونو کی یی جرړي غوځي شوي اوپه روس کي هم دغه نظام وروستۍ سلگۍ وهي ، خوپه چین کي یی لا موقتي واکمني ترلاسه ده ځکه چي هلته لا کمونست گوند د(دي انگي) ددی وینا په لوستلو عمل نه کوي چي ویلي یی چی تاسو دتورو په زوردتل لپاره دواکمنۍ په چوکۍ نه شي کښیناستلي .

دغه لوی تاریخي بدلون د ۱۹۸۹ دفروري د ۱۵ نیټي څخه راوروسته هغه وخت پیل شو چی په افغانستان کي د ۹ نیمو کالو په ترڅ کي دبي گناه افغانانو دوینو سره لوبي کوونکي روسي عسکربیرته دامودسیند تیر اوخپل وطن ته په تیښته ستانه شول .

دامودسیند په خوا کي دترمذدښاراوسیدونکو په ډیر غوراوچوپتیا سره دروس ددغي تاریخي ماتي صحنه کتله اوپخپلو مغزو کي یی انځوروله خبره دانه ده چي دافغانستان څخه دروسي قواو تښته دروس اولنۍ ماتي وه په دیروځایونو کي ماتي اوشکست دروس په برخه شوي دي .

ددیارلسمي پیړۍ په وروستیوکی روسي دولت کال په کال پراخیده اوپه اتلسمه پیړۍ کی دشمالي امریکا تربراعظمه پوري ورسیده (دنیشن مهم جوواتس بیرنگ)لمړی اروپا یي ؤ چي په ۱۷٤۱ کی یی دتزاري روس له اړخه په الاسکا کی قدم کیښود چي اوس هم دهغه په نوم (بیرنگ ابنا) یادیږي دغه ابنا آسیا له شمالي امریکا څخه بیلوي په ۱۷۹۹ کی دروس امریکا (الاسکا) ړومبني والي (الیگزنیدربیرانوف) په «ارکینجل » کی خپل مرکز تأسیس کړاوبیا په ۱۸٤۷ کی دامریکي دباندنیو چاروزیر«سیورډ » په ۷۲ لکه دالروباندی دالاسکا په اخیستو

کامیاب شو روس دالاسکا څخه
ووت خو په معاصرتاریخ کی ددوي
داپه شاتګ پخپله خوښه اودخپل
ګډوډ ژوند دسمبالیدو په خاطر ؤ
اوپه دی کی دپوځي ماتي څه نښه
نښانه نه ښکاریده دوهمه ماتی یی
۱۹۰٤-۵ کال کي دروس او جاپان
دجنګ په نتیجه کی وخوړه اوروس
جاپان ته د«سکهالین » دجزیري
دنیمي برخي په پریښودو مجبورشو
خوداهم څه دیادولو وړماتي نه وه
ځکه چي ۱۹٤۵کي دجاپان ترماتي
خوړلو وروسته روس یو ځل بیا په
دغو جزیرو باندي قبضه ولګوله
اوتراوسه دوي پوري اړه لري دریم
ځل روسانو په ۱۹۱۷ کال کی
دروسي انقلاب په نتیجه کی له
ماتي سره مخامخ شول تزاریانو په
دریووایالاتو استونیا ، لیتویا
،لتهوانیا اودپولینډ په یوه برخه
باندی منګولی ښخي کړي وي
خوکله چي په ۱۹۱۷ کال دمارچ
په میاشت کی په روسیي کی
انقلاب پیل شو دی سیمو خپله
ازادي اعلان کړه وروسته بیا روسي
انقلاب هم ددوي دغه ازادي سلب
نه شوای کړای خو بیا هم په
۱۹۳۹ کي دنازي المان سره دیوي
معاهدي له مخي روسي
دکتاتور(جوزف ستالین) په دی
څلورووایړو ایالاتو باندی یو
واربیاقبضه ولګوله اودغه شان
دبالتیك دساحلي سیمو څخه دروس
دپوځونو وتل عارضي ثابت شول :
روسي پوځونه د«استونیا » څخه
هم ناکامه راستانه شول خوداهم
ددوي پخپله خوښه اوداتحادي
هیوادونو دګډو کوښښونو اوهلو
ځلو په نتیجه کی ؤ دنازي المان
دماتي اودوه ځایه کیدو وروسته په
شریکو اتحادي پوځونو کی دروس
پوځ هم استریا ته ننوت
خوداتحادیانو دروغي جوړي سره سم
په ۱۹۵۵ کي دوي ته خپله بشپړه
ازادي اوناپیلتوب په لاس ورغي په
دویم نړیوال جنګ کی روس دفنلیند
نه د(پورکالاکالا) بحري اډه ونیوه
اوپه ۱۹۵٦ کی یی پخپله خوښه
خوشي کړه اوداشان صوماليي په
۱۹۷۷ کي دروسانو څخه «بربراده
»دبحري اډي دخالي کولو غوښتنه
وکړه اودا سیمه یی خوشي کړه چي
په مقابل کی جنوبي یمن دعدن

روسان کله چې وپوهیدل نورنشي کولای دمجاهدینو په
مقابل کې وجنګیږي نوهماغه ؤچې ګورباچوف په
(ولادي واستك) کې په دې اعتراف کولو مجبور شو چې
افغانستان زموږ لپاره یو نه جوړیدونکی ټپ دی.

اوسقوطره بحري اډي ورکړي اوبل طرف ته په ۱۹۷٤ کـــال کي دايتهوپيا دکمونستي انقلاب څخه وروستـه په اريتريا کي داسمره اومـــصنوع ترهوايي اوبحـــري اډو پوري ورسيـــد په دي وخت کي هم روس داوقيـــانوس په بحـــرکي شکست وخوړپه ۱۹٦۲ کال روس په پټـه ، پټـه کـيوبا ته ايتمي ميزايل ورسول چي ديوه پلوه دغه ځـاي دامـــريکا په خـوا کي دي امـــريکا پدي باندي راوپاريده اورئيس جمهور(جان ايف کنيډي) ددغه ځايه څخه دميزايلو دلري کـولو اخطارورکـړ خـوروسـانو مـقـاومت ونـښود دامـريکا اوروس بحري بيړي ديوه بل په مقـابل کي وخوځيدي اوپه دنيا کي ديوه ايتمي جنگ ويره راپيـــدا شـــوه خـو په وروستيو شپو کي دروس ديکتاتور غـورړونه کانه اوروسي بيړيوته يي دبيـرته ستنيـدو حکم وکړ اوروسي ميزايل يي دکيوبا څخه ليري کړل په ښکاره ټکو کي دغـــه کـــارته پوځي شکست نشي ويل کـيـداي بلکه داددوســـتـــرو طاقـــتـــونو دسـوړجنگ په نتـيـجـه کي دروس شکست وو دغـــه ټول واړه اولوي

شکســـتــونه پريږدو ! په نړۍ کي داانگازي وي چي روس کـوم هيواد يا کومي سيمي ته يوځل ننوځي بيا دهغـه ځـايه څـخـه نه وځي داتاثُر اوفکر هم غلط نه ؤځکه دمـــسکو رياست په يو څوزرو مربع ميلو کي پروت يوورکوټي ايالت ؤ خو داووه سووکلونو په اوږدو کي دغه رياست پراختـيـا ومـوندله چي اوس دروس واکمني دځمکي دسر شپږمي برخي ته پراخـــه شـــوي ده اواوس دنړۍ دټولو څخه لوي هيواد بللي شوي دي .

ددوهم نړيوال جنگ څخه وروستـه ټول اسـتـعــماري طاقـتــونه ساړه اوخپلو اصلي ځايونو ته ستانه شول خوروس همغه شان خپله استعماري واکمني پرځاي وساتله پخپلوسيمو کي يي داسي ويرونکي خطـرناك اوجنگي مـــاشـيـنونه ودرول اوډير زياتِ دلري فـــاصلي ويشـــتـــونکي مـــيـــزايل يي پکي ښخ کـړل چي امريکا يي هم وډارکړ .

دجنگي سازو سـامـان په نشـه کي ډوب روسي دکـتـــاتور برژنيف په ۱۹۷۹ کـال دډسمبرپه ۲۷ نيټـه خپل يونيم لك پوځ افـغـانسـتـان ته داخل کـــړځکه چي هلتـــه دشلو

مـياشتوڅخه مخکي ورتپلي شوي کمونيزم دماتي سره مخامخ وو .

روســـانو دټانکواوالوتکوله لاري بمباري وکره اودکابل ارگ يي لوټي لوټي کړ حفيظ الله امين يي ووژاه

> خپلواکــو اوباتــورو افـــغـــانانو چي روس تـه کـــوم ســبق ورښـود هغه دهيـريدو نه دي افغانانو ټولي نړۍ ته نـوی روح ورکــړ په مـــحکـومـــو ولســـونو کي دقـربانۍ ولولي راژونـدي کړي هماغـــه ؤ چي دشـــرقي اروپا مــحکـومـــو هيـــوادونو دخـــپلوغـــاړو نه دغـــلامي زنځيـرونه ليـري کړل پولينډ ، هنگري ، خـــتـــيځ المان ، چکوسلواکـــيـــا ، بلغـــاريا اورومـانيا کي يو په بل پسي دټولنيـزو ظلمـونو ټغـرورټول کـــــــــړ .

اوبـــــرك کـــــارمل يي په روسي ټانکونو ســـپـوردواکـمنۍ چوکۍ ته ورســـــاوه هغـــــه وخت کي هرچا دافـکرکـــــاوه چي روس به ډير زرافغان ولس دسر په ښکته کيدو مـجـبـورکـړي په اسلام اباد کي دامـريکا سفـير ضياالحق ته وويل چي ته اوس دپاکـسـتـان دسـاتني

فکرکوه اوافغانستان هیرکړه خو هغه صابر اومدبر سیاستمدار اوداوسپنیزهوډخاوند جنرال بل څه فکرکاوه هغه دالله تعالي په مرسته افغانستان دروس گورستان باله هغه پوهیده چي دافغان اوانگلیس په دوو مخکنیو جنگونو کي دانگریزي پوځونو دماتي خوړلو څخه وروسته (دهند وایسراي ملکه وکتوریا) دصدراعظم گلیډستون څخه پوښتنه وکړه چي څه شو زموږهغه لوي اوغټ پوځي قوت اوڅه پري وشول نوهغه ورته وویل هغه ولس ته به څوك ماتي اوشکست ورکړي چي دټوپك په نلي کي دجنت باغونه ویني اوهمدا شان افغانان دروس په وړاندي ټینگ ودریدل.دادشهادت په جذبه مستو وینو اوغوښو دپولادو اواورسره مقابله وه دي مقابلي ته ټوله نړۍ حیرانه شوه .دامریکا رئیس جمهورڅوڅوکرته افغان مجاهدینو ته سلام وړاندي کړاوهغه وویل چي دافغانانو دامبارزه یوه معجزه ده .

روسانو دهوایي بمباریو له لاري دافغانانو دکلیو اوکورونو دتباه کولولړۍ جاري وساتله اودپاکستان په سرحدي سیمو یي هم بمباري وکړي .

دپاکستان په لویو لویو ښارونوکي یي دتخریب کاري له لاري په سلگونو خلك شهیدان کړل داټول په حقیقت کي دپاکستان دډارولو

کوښښونه ؤ ترڅو دمجاهدینو دملگرتیا څخه لاس واخلي خوضیاالحق په ډیرصبر اواستقامت ورته وویل چي پاکستان دخپلي سلامتیا دساتني لپاره هرډول قرباني ورکولو ته چمتو دي روسان کله چي وپوهیدل نورنشي کولي دمجاهدینو په مقابل کي وجنگیږي نوهماغه ؤ چي گورباچوف په (ولادي واستك) کي په دي اعتراف کولو مجبورشو چي افغانستان زموږلپاره یونه جوړیدونکي ټپ دي روسانو پخپله ومنله چي جنگ دمجاهدینو په گټه دي په همدغه کال دببرك کارمل ځاي ډاکترنجیب ونیوه. بیا له دوه دریو میاشتو کشمکش څخه وروسته دجینوا پریکړه وشوه ددغي پریکړي سره سم د۱۹۸۸ کال دمي په (۱۵) دروسي پوځیانو وتل پیل شول چي دنهو میاشتو وروسته په ۸۹کال دفروري په ۱۵په پوره توگه له افغانستان څخه ووتل ، خو په دي دوران کي روسانو په پاکستان کي دننه دخپلو ایجنټانو له لاري ددووغټو تخریبي فعالیتونو په سرته رسولو کي بري وموند د۱۹۸۸ کال داپریل په ۱۰ یي دوسلي لویه ډیپو په (اوجري

کیمپ) کي تباه کړه چي له دغه ځایه به مجاهدینو ته وسله ورکول

دروس په بالتیکي ایالتونو یوکراین ، مالدیویا ، اذربایجان ، ارمنیا اوجارجیا کي هم دازادي غورځنګونه لا چټك شوي دي دلیتوانیا دي غوښتني چي دروس څخه به جلا کیږي ګورباچوف په سخت فکر کي اچولي داذربایجان یوي سیمي نخجوان چي دیوه اړخه دارمنیا اوله بله پلوه دایران سره نښتي ده دازادي اعلان کړي داهغه ښکاره نتیجي دي چي دافغانستان څخه دروس دپوځونو دوتلو څخه یو کال وروسته راښکاره کیږي

کیده اوپه ۸۸کال داګست په ۱۷ يي ضیاالحق دخپلو ملګروسره یوځاي په یوه الوتکه کي شهید کړ.که څه هم دشهید ضیاالحق شهادت دروسانو وتل دخنډ اوځنډسره مخامخ نه کړل اوروسان په تیښته له دي هیواد څخه ووتل اوپه دي ډول روسانویوه تاریخي ماته وخوړه .

په افغانستان کي دیوي سرسري سروي له مخي ۳۵ زره روسي عسکرمړه شوي دي ۱۳سوه الوتکي يي له منځه تللي اودهیواداقتصادیي په صفرضرب شوي دافسوس ځاي دي چي ددومره غټ شکست اوتاوان سره سره ځني خلك دګورباچوف په پوهه اوپالیسي باند شاباس وايي .

خپلواکو اوباتوروافغانانو چي روس ته کوم سبق وښود هغه دهیریدو نه دي. افغا نانو ټولي نړۍ ته نوي روح ورکـــړ. په محکومو ولسونو کي يي دقربانۍ ولولي راژوندۍ کړي هماغه ؤچي دشرقي اروپا محکومو هیوادونو دخپلو غاړونه دغلامۍ ځنځیرونه لري کړل .

پولینډ ، هنګري ، ختیځ المان ، چکوسلواکیا ، بلغاریا اورومانیي یو په بل پسي دټولنیزو ظلمونو تغر ورټول کړ اودرومانیي خلکو دکمونیزم مړی د(دنتیوب) دریاب ته وروغورځاوه ، دکمونیزم مخالفت اوس هم دوام لري دالبانیا اومنګولیا حکومتونه هم ددغه نظام څخه دځان دخلاصون په فکر کي دي هلته دروس په بالتیکي ایالتونو یوکراین ، مالدیویا ، اذربایجان ، ارمنیا ، اوجارجیا کي هم دازادۍ غورځنګونه لا چټك شوي دي دلیتوانیا دي غوښتني چي دروس څخه به جلا کیږي ګورباچوف په سخت فکر کي اچولي داذربایجان یوي سیمي نخجوان چي دیوه اړخه دارمنیا اوله بله پلوه دایران سره نښتي ده دازادۍ اعلان کړي داهغه ښکاره نتیجي دي چي دافغانستان څخه دروس دپوځونو دوتلو څخه یوکال وروسته راښکاره کیږي دروس استعماري دولت ټوټه ټوټه کیدونکي دي په کابل کي دنجیب ګوداګي حکومت هم په رانسکوریدو دي دمرکزي آسیا اسلامي ریاستونه به هم له دغو ازادیو نه اغیزمن شي اوهلته به دازادۍ څپي موجونه ووهي اوانشاالله دغلته به سږکال داسلام په ګټه بدلونونه رامنځ ته شي .

عبدالله «خرم»

دافغانستان جهاد اواستعماري سازشونه

پە دې مقالە کې بە تاسو ولولئ چې :

- پە افغانستان کې دروسانو ماتې دروسيې پرخلکو څە اغيزە وکړە ؟
- دروسانو ترتيبښتې وروستە ولې دامريکاپاليسي بل رنګ غورە کړ؟
- ګورباچوف ولې دپروسترويکا پروګرام اعلان کړ؟
- دروس اوامريکا دګډ سازش دځنښئ کيدو لارە کومە دە ؟

ددوهمې نړيوالې جګړې وروستۍ ورځې وې چې دامريکا متحده ايالات ديوسترقوت پە حيث وپيژندل شو، ځکە دجنګ پە ډګر دامريکا ورګډيدل اوپە جاپان باندې اټمي بمونە استعمالول ووچې دجګړې دانکشافاتو مخ يې دمتحدينو پە ګټە بلې خواتە واړولو ، همداراز پە دې وخت کې شوروي سوسيالستي اتحاد چې دهتلر اونازيانو دمقابلې ترعنوان لاندې يې پولنډ ، چکوسلواکيا اوداسې نور دختيځې اروپا هيوادونە لاندې کړي وو پە دغە سيمە کې دفوق العادە نفوذ درلودونکې وە ، دمارکسيستي انقلاب صدور دنړۍ پە نورو سيموکې هم دشوروي تلە لا پسې درندە کولە ، لنډە داچې دجګړې دخاورو اودوړو پە کښيناستلو سرە تولې نړۍ تە پتە ولګيدە چې روسان اوامريکايان سيخ ولاړدي اووروستە لە دې پە نړۍ دحکومت کولو ارادە لري .

لە دې وروستە ددغو دواړو قدرتونو ترمنځ دکشمکشونو اورقابتونو لړۍ پيل شوە چې دهغې پە جريان کې دوروستە پاتې اوخوارو هيوادونو خلك پە بيلابيلو نومونو اومختلفو بهانو ددوی داهدافو پە لارکې سرە وجنګول شول ، دامريکايانو اوروسانو ترمنځ د« سوړ جنګ » پە علت دبشريت ډير قوتونە او استعدادونە پە منفي اوويجاړوونکو لارو کې مصرف شول .

داوخت دپوځي تړونونو اواتحادونو

درونق دوره وه ، دناټو اوورارسا تړونونو سربېره روسانو غوښتل په لاتينه امريکا کې دمارکسيستي مزدورو ډلو په روزلو متحده ايالات ترستوني ونيسي اوامريکايانو دسنټو پيمان په رامنځته کولو هڅه کوله دروسانو چارچاپيرهيوادونه په يو تړون کې سره راټول کړي اوپه دې ترتيب روسيه ترمحاصرې لاندې ونيسي له يوې خوا په کيوبا کې روسي راکټونو واشنګټن هدف نيولى وُ اوله بلې خوا امريکايانو په ديګو ګارسياکې دکرملين دنړولو دپاره راکټونه نصب کړي وو.

ددغه نړيوال اړدوړ په منځ کې افغانستان دبوې بيطرفې سيمې په حيث پيژندل شوى وُ چې دظاهرشاه راحت طلبې دستګاه پرې حکومت کولو افغانستان چې يو وخت بې دانګريزانو اوروسانو امپراطوري سره بيلولې اوس بې دامريکايانو اوروسانو ترمنځ دفاصل خط وظيفه اجراکوله ، ددغه فاصل خط شمال ته روسان پراته وو اوجنوب خواته بې چې پاکستان اودهند بحر واقع وو دامريکايانو دګټو حريم ګڼل کيدل .

په ۱۳۵۸ کال کې چې روسانو مستقيماً پرافغانستان يرغل وکړاوپه سيمه کې دقواو توازن ګډوډ شو ، امريکايانو سخت ټکان وخوړ اوهمداعلت وُ چې دامريکا دهغه وخت جمهوررئيس « جيمي کارټر» دخيبر درې ته ورغى اوپه ډېر جديت يې روسانو ته اخطارورکړچې امريکايان به دروسانو نوريوقدم پر مختګ هم و نه زغمي !! که څه هم چې بيطرفې سيمې نور عملاً موجوديت نه درلود اوروسان يوقدم مخ تللي وو خوامريکايانو ځان ددغه ترخه واقعيت منلو ته چمتو کړى وُ.

دروسانو ديرغل سره دټولې نړۍ دانتظار په خلاف دافغانانو دمقاومت حرکت لا زور اوقوت وموند ، اودروسانو دبيرحمانه ټکولو سره سره په ټول هيواد کې پراخ شو ، دافغانانو ځپلو کې دروسانو پرله پسې ماتو غربيانو اوخصوصاً امريکايانو ته داامید پيداکړچې دلته دروسانو مقابله کول امکان لرى همداوو چې

> په اقتصادي برخه کې له يوې خوا سوسياليستي او ناقص اقتصادي سيستم او له بلې خوا دافغانستان دحکومتي مشاور جوړو روسانو سلاکارانو ګډوه، دغو ناسازګارو حالاتو روسان دې ته مجبور کړل چې پخپله وخت له سره غور وکړي او بالاخره دمارکسيستي اوغربي ضد سنګرونو ته په شا شي

امريکايانو وغوښتل په دغه مقاومت سرمايه ګزاري وکړي ، اوپه دې وسيله روسان وټکوي اورسوايې کړي .

خوپه افغانستان کې اودافغانانو په جهاد کې راديکال مسلمانان ترټولو قوي اومنظم وو، اودجهاد مؤثره برخه يې جوړوله نوامريکايي ستراتيژستانو ددغو تنظيمونو دامريکايي ضد افکارو سره سره دهغوى دمرستې او تقويې لا رمناسبه وبلله ،له بلې خوا پاکستان چې داسلام په نوم جوړشوى هيواد وُ داحقيقت يې

پوره درك كړي ؤ چې دپاكستان دبقا اوسالميت يواځيني لارپه افغانستان كې ديو پاخه اسلامي حكومت جوړيدل دي ، اوكه سور سيلاب دافغانستان له غرونو تيرشي ، دپاكستان په دښتو كې به يې څوك دمخنيوي توان ونه لري ، په دغه دوره كې په افغانستان كې دامريكايانو ، نورو غربيانو اوپاكستان اهدافو پوره هماهنگي درلودله ، اوجهادي تنظيمونه په خورابښه اوپه زړه پورې حالت كې وو دروسانو حالت مخ په خرابي ؤ ، په سياسي برخه كې روسانو چې پخوا دبيچاره اومستعمره هيوادونو ديواځيني خاوخوږي اوحامي څيره غوره كړې وه له دې وروسته ديو جارح اوغاصب قوت بڼه غوره كړه اوددريمې نړۍ هيوادونو كې يې پرمختگ په ټپه ودريد ، په اقتصادي برخه كې له يوې خوا سوسياليستي ناقص اقتصادي سيستم اوله بلې خوا دافغانستان دجگړې مخارجو دروسانو ملاورماته كړه .

دمجاهدينو مؤقت حكومت په رسميت نه پيژندل ، اوبيا دهغه نه يوه راكډه دستگاه جوړول ، دجلال اباد دجګړې تخريبول ټول اوټول مشتركه ريښه لري ، اودابيانوي چې امريكا په دغه سيمه كې پخپل سياست تجديد نظر كړي دي ، ددغه نوي سياست په اساس امريكا نه غواړي روسان په افغانستان كې له ځانه خپه كړي ، هغوي په ګڼه هڅه كوي ترڅو دواړو ته دمنلو وړحكومت په افغانستان كي جوړشي

دغو نامساعدو حالاتو روسان دې ته مجبوركړل چې پخپله وضع له سره غوروكړي اوبالاخره دماركسيستي اوغربي ضد سنگرونو نه په شاشي ، گورباچوف دشوروي اتحاد دويجاړاقتصاددسمبالولو اوپه نړيواله سطحه دانزوانه دراوتلو دپاره په يو لړ جدي اقداماتو لاس پورې كړ دهغه دپروسترويكا سياست په نتيجه كې دمسكو دروازې دغرب په مخ پرانستل شوې اودروسي اختناق چاره دختيځې اروپا له ستونې پورته شوه اوالمانونه سره متحد شول ، په نړيواله سطحه ددغو ستروبدلونونو پيښيدل سل په سلو كې دغربيانو په گټه وو ترديې حده چې دخليج په كړكيچ كې وينو چې امريكايانو په څومره اطمينان اوډاډ سره دعراق پرضد دوسلې استعمالولو فيصله نامه دملگرو ملتونو دامنيت دشورانه ترلاسه كوي ، اوروسان يې پرضد حتى يوه كلمه نه وايي ، په دې ترتيب نړۍ ديوې سولې خواته پرمخ ځي ، خو داسوله دسترو قدرتونو سوله ده اوددريمې نړۍ پرهيوادونو لاهم دجگړې اورونه بل دي ، په داسې شرايطو كې نور پاكستان اوافغانستان امريكايانو ته خپل ستراتيژيك اهميت له لاسه وركړ اوله يوې لسيزې وروسته دپرسيلر قانون دواشنگټن حافظې ته ورغى اوپه پاكستان باندې يې خپل كومكونه بند كړل ، په همدې لړكې پرمجاهدينو نه يواځې كومكونه بند شول بلكه په مختلفو طريقو يې په تخريب كولو شروع وشوه .

دمجاهدينو مؤقت حکومت په رسميت نه پيژندل ، اوبيا دهغه نه يوه راکده دستگاه جوړول ، دجلال اباد دجګړې تخريبول ټول اوټول مشترکه ريښه لري ، اودابيانوي چې امريکا په دغه سيمه کې پخپل سياست تجديدنظرکړی دی ، ددغه نوي سياست په اساس امريکا نه غواړي روسان په افغانستان کې له ځانه خپه کړي ، هغوی په ګډه هڅه کوي ترڅو دواړو ته دمنلو وړحکومت په افغانستان کې جوړشي يوڅه موده دامريکا دحکومت بهرنيو چارو وزارت او« سی ، آی،اې » ترمنځ نه يواځې دافغانستان بلکه ددغه سيمې په هکله شديد اختلاف موجود وُ ځيني کتونکي په دې نظردي چې دااختلاف لږ اوډير اوس هم په ځای پاتې دی .

دبهرنيو چارو مسوولينو اودحکومت مسوولينو غوښتل دپورته يادو شويو بدلونونو په رڼا کې ، دروسانو سره دتفاهم په وجه خپلو سياستونو ته تغير ورکړي ،

خوپرپاکستان اومجاهدينو باندې دکومکونو بندول اودامريکايانو نوي پروژې په کاراچول ، داسې ښکاروي چې ديوه اوږد پلان په ترځ کې سي ، آی ، اې اوخارجه وزارت غواړي داسلامي افکارو خاوندان ، څه دافرادو په سطح اوڅه دتنظيمونو په سطح بدنام کړي

دروس اوامريکا ضد سخت دريځه قوتونه ضعيف کړي ، اوروسانو ته هم ددغې سيمې په سياست کې ونډه ورکړي .

خود« سي ، آی ، اې » اداري مسوولينودې امرته غاړه نه ايښودله ، هغوی لا په هماغه لارروان وو، کومه چې دروسانو لويې غوښتنې اوجارحيت په وخت کې ټاکل شوې وه ، هغوی داسې استدلال کاوه چې ددوی ټول جوړشوی نظام ددغه نوي سياست له امله ګډوډ کيږي ، دوی ته دهغو پروګرامونو بدلول چې کمپيوټرونو ته ورکړل شوي ډير ګران کاردی ، دداسې ستراتيژي بدلول ډيره موده غواړي خوجوړشوي پلانونه اوګمارل شوي افراد بدل کړای شي .

خوپرپاکستان اومجاهدينو باندې دکومکونو بندلول او دامريکايانو نوي پروژې په کاراچول ، داسې ښکاروي چې ديوه اوږد پلان په ترځ کې سي ، آی اې اوخارجه وزارت غواړي داسلامي افکارو خاوندان ، څه دافرادو په سطح اوڅه دتنظيمونو په سطح بدنام کړي اوپه دې ترتيب دسيمې اوخصوصاً دافغانستان په سطح دسياستونو بدلول يوڅه طبيعي ښيي البته په دې برخه کې دمجاهدينو داتحاد اوواحد پروګرام نشتوالی ، دوقايعو سره جدي اومسوولانه برخورد نه کول ددغه پلان دعملي کولو ښه ممد ګرځي .

روانی اقتصادی ستونزی

اودروسیې راتلونکی

له بهرنیو منابعو څخه : ژباړن : طاهر

دسره صلیب یونرس داینانخاروف وران ویجاړکورته په داسی حال کې چې په لاس کې یې یو غټ قطی نیولی وه، قطی یې دیوی ۷۲ کلنی ښځی په لاس کې کیښوده. سپین سرې ښځې چې قطی خلاصه کړه ګوری چې قطی دقهوی ، چاکلټو اودنورو خوراکی موادو څخه ډکه ده؛ هغې چې ډیری ورځې پس دومره شیان ولیدل سترګوکې یې اوښکی راغلی اوبې اختیاره په ژړاشوه ، ای زماخدایه ! داورځ دې هم راته وښودله آخرپه هیواد کې خوراکی مواد دومره کم شول. دبهرنیو مرستو دورلیږلو څخه وروسته دروس دډیرو کورونو په دروازو کې همداسی منظری لیدل کیږی.

آیا روس دخوراکی موادو له سخت بحران سره مخامخ دی ؟ ایادنوی کلی اوکورونه وران شویدي؟

دیوی اونۍ مخکی خبره ده چې مسکو یوالځی دالمان ، امریکا ، ایتالیا ، سویزرلینډ اوداسرائیلو څخه ۲۰۰۰ میټرکه ټنه مرسته واخیسته دمسکو دمنابعو له مخی په روسیه کی (۱٦۲) ملیونه وګړی دغربت ژوند تیروی اوتقریباً پنځه لکه خلک درملو ، دکوچنیانو خوراکی موادو اونوروضروری شیانو ته ضرورت لری ، یخنی مخ په زیاتیدو ده،خوددغو اړتیاوډپوره کیدوامیدنه شته اونسخت قحط نښې نښانی لیدل کیږی. دخوراکی موادو دکمی دغه بحران کیدای شی چې دملی امنیت په بحران بدل شی اوپه روسیه کې داصلاحاتو بنسټ ایښودونکی لپاره مشکلات اوستونزی رامنځ ته کړی. څه موده پخوا به دمسکو او لینن ګراد په بازارونو کې دعامو خلکود اړتیا وړڅیزونو څخه نیولی ترګانګړو ضروری شیانو پوری هرڅه موجود وو ، دلرولرو کلیوخلك به دشیانو داخستلو لپاره دلته راتلل خواوس حالات بدل دي. اوس په روسیه کې مشکلات له حده زیات شوی کلیوال راوپارېدل هغوی دټولو شیانو لیږدول بند کړی اوددی خبری هیڅ پروانه کوی چې داښار دهرډول شیانو دپیداکولو څخه محروم دی اوپه عمومی ډول دهغوی دلاس محصولاتو ته ناست دی. دحیرانتیاوړخبره داده چې په روسیې کې دخوراکی موادو بحران

دخوراکی موادو دکمښت نتیجه نه ده سږکال په روسیې کې ډیر زیات پیداوارترلاسه کړای شول اوپه ډیروسیمو کې دارتیاپرانداز پیداوار مقدارزیات ؤ دادخوراکی موادو کمی نه بلکه دادهغه سیستم دماتی نتیجه ده کوم چې دخوراکی موادو دویشلو لپاره وضع کړای شوی،دغه نظام اوس په پوره ډول ناکام شوی دی ددی یوه وجه داښودلای شوی ده چې دروس داسعارو (روبل) دخرڅلاو په قوت کې لانور کمی راغلی دی ، دوهم لامل یې داښودلای شوی دی چې کلیوالو دښارونو دارتیاو دپوره کولو څخه انکارکړیدی هغوی خپل اضافی پیداوارپه نورو شیانو تبادله کوی اوبیا هم که څه پیداوار زیات شی نوهغه په زیاته بیه خرڅوی ځکه دښارونو گودامونه خالی پاتی شول. دخوراکی موادو دکمی له امله په ځنو کلیو کې غریبی کورنی صرف په الوگانو باندی خپل وخت تیروی همداراز په ښارونو کې دخوراکی موادو احتکاردخوراکی موادو دکمښت سبب گرځیدلی،دخوراکی موادو درسولو داداری دمامورینو په فکردابحران دکاردسیستم

دمسکو دمنابعو له مخی په روسیه کې (۱٦۲) ملیونه وگړی دغربت ژوند تیروی اوتقریبا ۴ پنځه لکه خلک درملو، دکوچنیانو خوراکی موادو اونوروضروری شیانو ته ضرورت لری ، یعنی مخ په زیاتیدو ده،خوددغو اړتیاو دپوره کیدو امیدونه شته اودسخت قحط نښی نښانی لیدل کیږی .

دخرابی نتیجه ده چې باید په هغه کې اساسی بدلونونه منځ ته راشی دالمان دمرستو دهئیت دغړو لپاره دادحیرانتیاخبره ده سره ددې چې ددغه ځای مارکیټونه دخرڅلاو لپاره دهرشی نه ډک وو.

منی ، انگور اومالتی بی حسابه وی خوبل طرفته داحال ؤ چې خلکو ته خوراکی مواد نه رسیدل ځنی مبصرین وایی چې دابحران په گوند کې دننه دګینو مخالفینو دځینو منځنی اختلافاتو له کبله پیداشوی دی ترڅوپه سیاسی حالاتوباندی دمقاماتو کنترول کمزوری کړی

شاید له همدی کبله دروسیې جمهوررئیس په بحران باندې دکنترول حاصلولو لپاره خپل کوښښونه چټک کړی دي،په پارلمان کې گرباچوف په خپله وینا کې خلکو ته زیری ورکړی چی ډیر ژر به ۱۰ ملیونه ټنه غنم،۱.۹ ملیونه ټنه بوره او ۳۵۷۰۰ ټنه غوښه او نوری مرستی راورسیږی .

پارلمان ته دوینا په ترځ کې جمهوررئیس دهغو خلکو په خلاف دسختو اقداماتو اعلان وکړکوم چې دبهرنیو مرستو په وړاندی ستونزی اوخنډونه رامنځ ته کوی اودهیواد په پیداوارو کې احتکارکوی.هغه دکی ، جی ، بی اودکورنیوچارو دوزارت مامورینو ته هدایت وکړ چې دمرستو دتوزیع کولو عمل په کامیابۍ سره سرته ورسوی. همداراز نوموړی داهم په ډاگه کړه چی محتکرین دې دسختی څارنی لاندی ونیول شی خواوس پوښتنه داپیداکیږی چې آیا دروس نظام دغداری ورستیو پوړیوته رسیدلی دی ؟

لکه څنگه چې دروسیې په ورځپاڼو کې دخپریدونکو خبرونو څخه په ډاگه معلومیږی اوپه پارلمان کې

دجمهوررئیس له وینا څخه په دغوخبرونو دتصدیق مهرلگول کیږی. تروزن دپارته (TREO NTROSORZ) چې دخوراکی موادو دویشلو اداره ده ټول هیواد ته دالوګانو نیمایی برخه اودسبزیجاتو دریمه برخه برابروی دتیکس اوصادراتو په برخه کې ورته ډیری اسانتیاوی ورکړای شویدي سره له دې هم په دغه اداره دخیانت تورلګول کیږی په دې ډول د(پرایس ترایکا) په پالیسۍ ولاړدسبزی منډی هم دخیانت اوبددیانتۍ په ناروغۍ اخته ده هغه چې عامو خلکو ته تازه شیان وررسوی دلته هم قاچاقبران کارکوی .

یوډاکټردنیوزویك خبریال ته وویل چې داشیان په کمه بیه باندی پیرودل کیږی اوپه ډیره لوړبیه پلور ل کیږی.دروسیی دجمهوررئیس په دې اعلان چی کی ، جی ، بی به دخوراکی موادو دویشلو کارپه کامیابۍ سره سرته ورسوی ، په روس کې دننه یې ډیره غندنه شویده اودده په دې اعلان ډیر خلك تنقیدونه کوی بلکه دکی ، جی ، بی ډیر غړي هم دده داپالیسی نه خوښوی. دکی ، جی ، بی یوه غړی وویل که چیری دخوراکی موادو دګودامونوساتل پدی شان وی نولازمی خبره ده چی ګټودی پکې راځی.

یوروسی مبصر پخپله تبصره کې وویل چې دوی زیاتره خپلی ګټی په نظر کې نیسی ځکه ستونزی زیاتیږی داسی ښکاری چې دروســــیی جمــــهوررئیــس دغو مخالفتونو ته زیات ارزښت ورکول نه غواړی، هغه دخپلو اقداماتو په ښه ډول پرمخکی بیولو کې دمقاماتو دتبدیلولو څخه هم ډډه ونه کړه دکورنیو چارو وزیر یی لری کړاوپرځای یې « جیرس لاکو» مقررکړ ځوك چې دروسیی دجمهوررئیس زیات هم فکره ښکاری ، دکورنیو چاروډوزیر مرستیال یې « حنبابورس» مقررکړ دغه سړی په افغانستان کې دروسی پوځونو دلوی قوماندان په صفت وظیفه سرته رسولی . برسیره پردې اوس جمهوررئیس ته

دداسی خلکو شمیر ورځ په ورځ زیاتیږی کوم چې په بشپړه توګه دکارکولو اهل نه وی،خوهغوی خپل لګښت لــه کومه کړی،دډیرو مبصرینو په فکرکه داوضـــاع حــالات ترډیره وخته دوام وکړی بې شمیره روسی کورنۍ به دسرګونو په غاړه دسوال لاسونه اوږده کړی.

په ماسکو کې خلك دخوراکې موادو داخیستلو لپاره قطاردریدلي دي

دنورو اختیاراتو ورکولو په کارزوراچول شوی د ۱۵ ایالتونو دمشرانو دکابینی داختیاراتو دزیات والی لپاره پیشنهاد وړاندې شوی چې ددې میاشتې په آخره کې به پارلمان پدې هکله خپل نظر څرګند کړی، په روس کې دشیانو دډیر والی اوکموالی مسئلی بهرنی نړۍ دمرستو ورکولو په باره کې په تذبذب کې اچولی ده . داسی یو هیواد چې خپلی اړتیاوی دخپلو پیداوارو څخه پوره کولی شی هغه ته دمرستو ورکول څه معنی لری یوخارجی مبصر روسیی ته په مرستو ورکولو دتبصری کولو په وخت وویل :

دفرانسی دمرستو دڅانګی دیوه مشر دخولی وینا ده چې قحط وهلی ترټولو زیات دمرستو مستحق دي ځکه هلته دلوږی نه بی شمیره خلك مره کیږی ددغو څرګندو نظرونو سره سره بیا هم تقریباً ټولو اروپایی هیوادونو روسیې ته دمرستو ورکولو ملاترلی ده اوددوی دمرستی الوتکی دروسیی په ساحلونو کې کوزیږی (اګرچې داشکایت هم کوی چې په مرستو کې زیاته غلا په همدغو ساحلونو کې کیږی) روس ته په مرستو ورکولو کې المان له هرچانه وړاندی

وایی یوه ورځ یو روسی ځوان دویزی اخستلو دفترته ورغی اوبل هیواد ته دتلو اجازه یی غوښتنه. مسئول مامور پوښتنه تری وکړه: امریکا ته ځی ! ځوان ځواب ورکړ هلته هم بیروزګاری ډیره ده ، ښه بیا ایتالیا ته ځی ؟ نه هغه دمافیامرکز ګرځیدلی. مامور ورته وویل دانقشه وګوره فکروکړه دخپلی خوښی هیواد ولټوه اوبیا ماته ووایه ځوان ډیر وخت نقشه وکتله اوویی ویل بله نقشه نشته .

دی اوداهغه المان دی چې په دوهم نړیوال جنګ کې یې روس دوه نیم کاله محاصره کړی وو- دمبصرینو فکردی چې په المان کې روسیی ته دمرستو دورکولو په پلوی کې چې کوم تبلیغات کیږی پدې کې ددوهم نړیوال جنګ دمحاصری یادونه ضرورپیداکیږی ـ د المان په ورځپاڼو کې دیوی داسی روسیې ښځې تصویر خپورشوی دی چې په دوهم نړیوال جنګ کې المانیانو بندی کړی وه. کله چې دې ښځې ته دالمان دمرستو یوه لفافه ورکړای شوه نودخپلو سترګو په لیدیی باورنه کیده هغې دغه عبارت څوځلی ولوست (دالمان لخوانه دخپل غم ځپلی ورورروس لپاره) دالمان جمهوررئیس یوه ژورنالست ته وویل چې موږګورباچوف دروسیی دجمهوررئیس په توګه لیدل غواړو اودهغه سیاسی ناکامی داروپا لپاره ښه خبره نه ګڼو. موږبه له ده سره پوره ملګرتیاکوو، جاپان هم دخپلی وس سره سم دروسیی سره مرستی کوی پداسی حال کې چې دیوه بل سره سخت سیاسی اختلافات لری اوهم ددوهم نړیوال جنګ په وخت کې روس له جاپان څخه په زوره ډیری سیمی نیولی دي ، خوپه اوسنیو تازه حالاتو کې جاپان روسیی ته دواګانی اوخوراکی مواد وولیږی همداراز امریکا هم دمرستو ورکولو خبره کریده .

دغربت اولوږی دپای ته رسولو دندوره چیان نن پخپل کورکې له

غریت اولوري سره لاس اوګریوان دي ډیر مامورین دخپل وخت ډیوره کولو څخه وروسته په نوروځایونو کې کارکوی ترڅودخپل کور ارتیاوی پوره کړای شی کله چې یو تن خارجی سوداګرڅخپل ترجمان څخه دزیات کارکولو غوښتنه وکړه نو هغه سمدستی قبوله کړه « ځکه چې هغه ته دخپلی ناروغی ښځی دداکترمصارف وریه غاره وو» دروسیې خلك پخوا هم دقحطی سره مخامخ شوی : ۱۹۲۱ - ۱۹۳۲- ۱۹۴۷ اوداسی نور اواوس یې یوځل بیا هغه پخوانی یادونه راتازه شول. دداسی خلکو شمیر ورځ په ورځ زیاتیږی کوم چې په بشپړه توګه دکارکولو اهل نه وی خوهغوی خپل لګښت له کومه کړی.

دډیرو مبصرینو په فکرکه دااوسنی حالات ترډیره وخته دوام وکړی بی شمیره روسي کورنی به دسړکونو په غاره دسوال لاسونه اوږده کړي.

آیا دغه ورځی به دروسی نظام وروستی ورځی وي دخارجی مبصرینو دتحلیل له مخی دروسیې اوسني حالات ددې خبری طبعی نتیجه ده چې هغه د(اکنامی مارکیت) په لوری روان دی. په اوسنیو وختونوکې روسیې ته دبهرنیومرستو وررسول پکاردي داسی نظریات هم راڅرګندیږی چې اوسنی بحران دروسیې داقتصادی نظام دخرابی نتیجه ده ، اوداچی که بهرنی مرستی جاری وی خوبیا هم دکارپه سیستم کې دتبدیلی نه په غیر دڅه‌پرته پوری حل امیداوتمه نه کیږی په هرحال دروس اوسنی بحران (داصلاحاتو دقاید) مقبولیت په خلکو کې له سخت خطر سره مخامخ کړی اودهغه مسیحایی جادو ماتیدونکی دی.وایی یوه ورځ یو روسی ځوان دوزی اخستلو دفترته ورغی اوویل هیواد ته دتلو اجازه یی غوښتنه مسؤل مامور پوښتنه تری وکړه: امریکا ته ځی ؟ ځوان ځواب ورکړ: هلته هم بیروزګاری ډیره ده ، ښه بیا ایتالیا ته ځی ؟ نه هغه دمافیامرکز ګرځیدلی. مامور ورته وویل دانقشه وګوره فکروکړه دخپلی خوښی هیواد ولټوه اوبیا ماته ووایه. ځوان ډیر وخت نقشه وکتله اوویی ویل بله نقشه نشته .

اوس ورو- ورو څومره چې دخوراکی موادو دکمی بحران زیاتیږی په هماغه اندازه نورو هیوادو ته دتللوغوښتنه هم زیاتیږی اودغه کاردروس ګاونډی هیوادونه په اندیښنی کې اچولی.ددې ویری له کبله دفرانسی شبکی څانګی خپل حکومت خبرکړیدی چې په یخنی کی فرانسی ته دووملیونو روسانو دننوتو امکان شته اوداشمیر زیاتیدی هم شی چکوسلواکیاهم دروسی پوځونوپاره جوړشوی مرکزونه دمهاجرینو په کمپونوبدل کړی ترڅودضرورت په وخت کې دزیاتو سختیو سره مخامخ نشی متحده المان هم دخپلو سرحدونو څارنه سخته کړیده چې دبل هیواد خلك په غیر قانونی ډول المان ته داخل نه شی.دمتحده المان دمقاماتو وینا ده چې نوی دشرقی اروپااودروسیی یوملیون خلك له مخکی نه پخپل هیواد کې میشته کړیدي اوکه بندیزونه زیات نکړو نوپه یخنی کې داشمیره پنځه چنده زیاتیدی شی اګرچې روسی حکمرانانو دهیواد څخه دوتنی خبره نده منلی اوواییی چې دادښمنانو پروپاګند دی.خوپه عملی ډول په روسیه کې دغه دادګیرنی غیر مؤثره ثابتی شوی اوبی اطمینانی ورځ په ورځ زیاتیږی اوس روسانوپه سرحدونو کې څارنه سخته کړی خاردارسیمونه اوماینونه ځای په ځای ښخ شوی.په هرحال دمعتبرو سرچینو په حواله روسان نشی کولای چې په دې توګه دخلکو دوتلو مخه ونیسی .

په افغانستان کې د روسانو د شرمیدلې ماتې عوامل

سید محي الدین « هاشمي »

داموضوع چې : دافغانستان دنیولو لپاره دروسانو شومې هلې ځلې څنګه له ناکامۍ سره مخامخ شوې اوروسي قواوې ولې اوڅنګه دیوې شرمیدلې ماتې په نتیجه کې له افغانستان څخه په تیښته ووتې ښایې دهرچاپه نظر دهغه دځانګړې قضاوت اوطرزتفکر له مخې بیل عوامل ولرې .

ښایې ځینې خلك له افغانستان څخه دروسانو وتل دیو لړ نړیوالو فشارونو سبب کڼې،څوك به یې دروسیې په رهبرۍ اوسیاست کې دبدلون نتیجه بولې .

څوك به دافغانستان له مجاهد ملت اوجهادي ځواکونو سره داسلامي هیوادونو په ځانګړې توګه دپاکستان ، سعودي عربستان او... له خواداسلامي ورورولۍ اوهمدردۍ په بنا مادي مرستې اوملاتړدروسي قواودماتې اوپه شاتګ اصلي اواساسي لامل ګڼي اوڅوك به ...

خوزموږپه عقیده دایو هم په افغانستان کې دروسانو دشرمیدلې ماتې اوبیا تیښتې اصلي اواساسي عامل نه شي کیداې .

داځکه چې :

په دې خوشك نشته چې روسانو دافغانستان دنیولو اوهغه دخپلې خاورې دجزګرځولو اوبیا له دې لارې ځان دهند تودواوبو ته درسولو لپاره له پخوانه شوم پلان درلود چې دپترله وخت څخه نیولې بیا پر افغانستان باندې دمستقیم اوبربنډ تیرې تروخته پورې یې په بیلوبیلو وختونو کې بیلې بیلې بڼې ځانته غوره کړې دي چې دلته دهغې پرټول سیاسي اوتاریخي پس منظر بحث کول زموږ ددغه لنډې تنګې لیکنې په چوکاټ کې نشي ځائیدې .

د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په اوومه نیټه دروسانو په دستوراوملاتړدیوې کودتا په نتیجه کې دهغوې ایجنټانو اوغلامانو (خلقیانو اوپرچمیانو) چې دهمدې هدف لپاره یې روزلې وو، دسیاسي قدرت واګې ترلاسه کړې اوتردې وروسته بیا ټولې دولتي چارې دروسانو په دستورسرته رسیدلې که غلامانو یې فرمانونه صادرول اوکه مقررات اوقوانین یې وضع کول اوکه دتش په نامه مترقي اصلاحاتو په نامه یې د دولتي دستګاه په ادارو کې بدلونونه راوستل اوکه ...داټول دروسي قوانینو اوفرامینو دمتنونو ترجمې وې چې دروسي مشاورینو له خواورته ویل کیدلې اوغلامانو یې په پټو سترګو اووازکومې دافغانستان خلکو ته اعلانولې .

هسې خو په افغانستان کې دکمونستي مفکورې اودروسانو دملحدو نوکرانو پرضد مجاهده اومبارزه ترډې

څوکاله دمخه پیل شوی وه خوپه افغانستان کی دڅورکمونستی کودتا اودروس دغلامانوقدرت ته رسیدلو دمؤمنوافغانانو مقاومت له یوی ورځی نه بلی ته پیاوړی اوځواکمن کړ.
روسانو که هرڅو خپلو غلامانوته درنی اوسپکی وسلی په واك کی ورکړی اوکه هرڅوبی ورته دمؤمنو افغانانو په مقابل کی دظلم ، زورزیاتی اووحشت قومانده صادره کړه اوکه هرڅوبی خپل نیرنگونه په کاراچول دی یو هم دافغانانو جهادی پاڅون دتوپانی بهیر مخی ونشوای نیولای بلکه سرمنزل ته درسیدو په لارنوم گړندی شو.
روسانوته معلومه شوه چی نوریی نوکران دمجاهدینو په وړاندی دمقاومت توان نه لری.داهغه وخت ؤچی ټول هیواددوی غلامانوته داورتبی گرځیدلی ؤدتنگ راتنگ زیاتره لاری یی بندی وی دیګرزیاتی وسلی اووسیلی تری مجاهدینو په غنمیت نیولی وی دپوځی قواوټولگی اوړلگی یی دمحاصری په حال کی وو اودهیواد زیاتره سیمی دمجاهدینو په لاس فتحه شوی وی،داهغه وخت ؤ چی دهیواد په گوټ گوټ کی پرملحد دښمن باندی دمجاهدینو دبری اوازی خپری وی .
اوبالاخره داهغه وخت ؤ چی دافغانستان مسلمان ملت دخپل اسلامی غورځنگ اوپاڅون برى شیبى رارسیدوته سترگی په لاړ اوپه همدی نن سبا کی پردښمن باندی دبری دادو دهرمؤمن افغان په زړه کی ځای نیولی ؤ.
هیواد هم دمرکزی آسیا هیوادونو په څیر په خپله استعماری لومه کی راښکیل کړی ، اوبیا به دخپل پخوانی شوم هدف (دهند توبواوبو) ته درسیدلو په لوړ مخ په وړاندی لاړشی ، خوداخیال هم دنورو په شان ددوی

> په افغانستان کي دکمونستي الحادي مفکوري اودروسانو دملحدونوکرانو پرضد مجاهده اومبارزه ، تردي څوکاله دمخه پیل شوي وه،خوپه افغانستان کي دڅور کمونستي کودتا اودروس دغلامانو قدرت ته رسیدلو دمؤمنو افغانانو مقاومت له یوي ورځي نه بلي ته پیاوړي اوځواکمن کړ.

په همدغو حساسوشیبو کی دوحشی اوملحدو روسانو ترسلو زرو زیات په ټانکونو ، الوتکو اونوروعصری وسلو سمبال پوځ دټولو نړیوالوموازینو اومقرراتو پرخلاف زموږپرهیواد تیری وکړ ، خپل پخوانی نوکر حفیظ (لعین) یی له منځه یوړاو۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه یی دمسکو اوتاشکند له راډیوگانو څخه دخپل یوبل گوډاگی ببرك کارغل غلامانه واکمنی اعلان کړه.
روسانو پرافغانستان باندی دابرید تیری ددی لپاره وکړ چی له یوی خوابه دالحاد اوکمونیزم پرضد دافغانستان دخلکو اسلامی پاڅون له منځه یوسی اوله بلی خوا به دغه دتوقع خلاف غلط ثابت شو.
روسانو څه دپاسه (۹) کاله په خپل ټول زوراوقوت سره دافغانستان دمؤمنوخلکو دجهادی پاڅون دځپلو اوله منځه وړلو هڅه وکړه خوپه دی لارکی هیڅ ډول وسلی اووسیلی په خپلو کرغیړنو اهدافو کی ددوی دبری تضمین ونکړای شو .
که دافغانستان دمسلمانو وگړو په وړاندی یی له هرڅومره زور، وحشت ، لوټماری اوعامه وژنو اودکلیواوکورونو دړنگولوڅخه کاراخیست هومره یی په مقابل کی دمقاومت ځواك پیاوړی شو ، هماغه ښکیلاکی قدرت چی تل به یی په خپل قوت اوزورویاړل ، خپل وحشی

پوځونه یی ماتی نه خوړونکی اوخپل ځان ته یی سُپرطاقت وایه ، دایمان اوعقیدی په وسله سمبال ملت له خوایی دهغه سُپرطاقت صفر ته تقرب وکړاوپه پوځی ، سیاسی ، اقتصادی او... ډګرونوکی یی داسی له شرمه ډکه ماتی وخوړه چی اوس یی په هیڅ رنګ اونیرنګ دنړیوالو له نظره نشی پټولای په زرګونو پوځیان یی ووژل شول ، په لس ګونوزره یی معیوب،په سلګونو تنه یی ژوندی ونیول شول اوبی شمیره جنګی وسلی اووسیلی یی څه له کاره ولویدی اوڅه تری مجاهدینو په غنمیت ونیولی .

نوویلای شو چی : په افغانستان کی دروسانو دشرمیدلی ماتی اصلی اواساسی عوامل په لومړی قدم کی له مؤمنو افغانانو سره دالله (ج) نصرت اومعاونت اوبیا ددغه مؤمن ملت وسله وال جهادی پاڅون،پرله پسی نه ستړی کیدونکی مقاومت اودڅوملیونو مؤمنو افغانانو قربانی ده چی روسان اودهغوی نوکران یی په ارامه ساه اخیستلو ته پرینښودل اودامو‌قع یی ورنکړه چی خپل شوم اوکرغیړن هدفونه په عمل کی پلی کړی .

دخدای (ج) درضا اوخپل هیواد دآزادی لپاره دمجاهدو افغانانو دهمدغو سربښندنو اوځان تیریدنو نتیجه وه چی روسان د۱۳٦۷هـ ش کال ددلوی په (۲٦) نیټه چی د۱۹۸۹ ع کال دفبروری له ۱۵ نیټی سره

روسانو څه دپاسه (۹) کاله پخپل ټول زور اوقوت سره دافغانستان دمؤمنو خلکو جهادي پاڅون دځپلو اوله منځه وړلو هڅه وکړه، خو په دې لارکې هیڅ ډول وسلې اووسیلې په خپلو کرغیړنو اهدافو کې ددوی دبري تضمین ونکړای شو،

سمون خوری له افغانستان څخه په تیښته ووتل.روسانو ظاهراً هڅه کوله چی دجینوا معاهدی په وسیله په افغانستان کی خپل شرمیدلی ماتی ته دشرم پرتوګ واغوندی ، نوځکه یی دغه تښ په نامه تړون دخپلی تیښتی لپاره یوه پلمه کړه ، خواوس په ټوله نړۍ کی دویښ ضمیر اووجدان خاوندانو داخبره درک کړی چی له افغانستان څخه دروسانو په تیښته دوتلو اصلی عامل څه دی؟اوټولو ته داپته لګیدلی چی روسانو دنومړه ستړپوځی اومادی قوت سره سره دیوکوچنی تش لاسی خودایمان اوعقیدی په وسله سمبال مجاهد ملت په مقابل کی هراړخیزه ماتی خوړلی اوله افغانستان څخه تیښتی ته مجبورشوی هسی یی دجنیوا معاهده ځانته دشرم پوزه جوړه کړه اونړیوالوته یی داسی ښودلو هڅه وکړه چی ددغه معاهدی پریکړو ته داحترام پربنسټ له افغانستان نه خپلی قواوی وویستلی .

بسم الله الرحمن الرحيم

دخليج داوسنۍ جګړې په اړه دافغانستان دجهادي قوماندانانو دسرتاسري شورۍ اعلاميه

الحمد لله وكفى والصلوة والسلام على عباده الذى اصطفى وبعد:

دروانې پيړۍ ورروستۍ لسيزه داسلامي هيوادونو اوټولنو په تاريخ کې دمهمو اوزړه دردوونکو پيښو شاهده وه.

له نن نه لس کاله دمخه دروسيې يرغلګرو قواو زموږ پرهيواد يرغل وکړ.

نهه کاله وړاندې په دوواسلامي هيوادونو ايران اوعراق يوه خونړۍ جګړه تحميل شوه.

دوکاله دمخه دهندي جاه طلب واکمنو له خوا دکشميري مجاهدينو دځپلو عمليه پيل شوه اوبابري جومات چې هلته خلکو دخداى (ج) عبادت کاوه ، دافراطي هندوانو له خوا اشغال اوبې احترامي يې وشوه.

دفلسطيني مبارزينو انتفاضه تحريك داسرائيلي يرغلګرو صهيونستانو له خوا په ډيرې بې رحمۍ اووحشت سره وځپل شو.

تراوسه چې لا دخليج فارس له فضا څخه دايران اوعراق داته کلنې جګړې ګرد اوغبار نه ؤ لرې شوى دخليج داسلامي هيوادونو ترمنځ غمناکه فاجعه او جګړه رامنځ ته شوه.

دغه فاجعه چې دعراق له خوا دکويټ دنيول کيدلو اوکړکيچ دسياسي حل لپاره دهلو ځلو دناکامۍ څخه ورروسته پيل شوه ، له يوې خوا داسلامي هيوادونو دکمزورتيا، تباهۍ اوددغو هيوادونو دمسلمانانو دبې رحمانه مرګ ژوبلې سبب شوه له بلې خوا يې په سيمه اواسلامي هيوادونو کې دبيګانه قواوو دموجوديت له پاره پلمه هم جوړه کړه.

موږپه داسې حال کې چې داسلامي شريعت داصولو ، احکامو اوبشري نړيوالواصولو اوموازينو له مخې دکويټ پرخاوره دعراق دبعثي رژيم تيرى اويرغل په کلکه محکوموودعراق پر مسلمان ملت اواسلامي مقدسو ځايونو دامريکا اودهغه دمتحدينو هوايي وحشيانه حملې او بمبارۍ په کلکه غندو.

موږ هيله کوو چې په دغه خونړۍ جګړه کې ټول ښکيل اړخونه بايد له قضاياوسره مسوولانه چلن وکړي ددغه خونړۍ جګړې دزياتوالي اودوام مخه ونيسي اودسولې اونړيوالو حدودو دتأمين لپاره دې نورې مناسبې لارې چارې وپلټي.

موږهيله کوو چې صدام حسين بايد دکويټ له خاورې څخه دخپلو پوځونو دايستلو اوددغه هيواد دخپلواکۍ د په رسميت پيژندلو پرښسټ دجګړې ددوام اوپه اسلامي هيوادونو اوسيمه کې دبهرنيو بيګانه قواو دموجوديت مخه ونيسي.

بايد يادونه وکړوچې که چيرې داسرائيلو يرغلګراوغاصب رژيم له موقع څخه په ګټې اخيستلو سره دعراق پرخاوره يرغل وکړي ، په دغه صورت کې به دنړۍ مسلمانانو دهغو په وړاندې بې توپيره پاتې نشي.

ومن الله التوفيق

دجهاد دقوماندانانو دسرتاسري شورى سياسي کميټه

د١٣٦٩ هـ ش دسلواغې ٢

الحاج حقاني دامریکا غږخبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل :

دکابل دمزدور رژیم ددوام لومړنی علت دجهادی قیادتونو بي اتفاقي اودمجاهدینو ترمنځ دواحدی نظامي اوسیاسي ستراتیژي اواداری په رابطه ستونزی اوله مقاومت سره دمرستو کموالي دی

دوه کاله مخکي دافغانستان دمجاهد اوقهرمان ولس د بي دریغه قربانیو اومقاومت په نتیجه کي روسي پوځونه له شرمیدلي ماتي سره له افغانستان څخه وویستل شول اودغه وړدایرغلگرپوځونه دخپل پراختیادغوښتونکي اواستعماري سیاست په وحشتناك تاریخ کي دلومړي ځل له پاره دشکست اوپه شاتگ زهرجن گوټ په سرواړاوه .

دروسانو داشکست یواځي په افغانستان کی محدود پاتی نشوبلکی دروسیی دننه یي هم لارپیداکړه اوهلته یي هم خوځښتونه اوغورځنگونه وزیږول اوپه پښویي ودرول، په ختیځه اروپا کي یي هم دکمونیزم دوحشت برجونه رانسکورکړل اوله نړي څخه یي دکمونیزم جنازه ویستله، خوله بده شامته دځینو داخلي اوخارجي عواملو له مخي افغان مجاهد ولس لا دخپلو قربانیو اووینو ثمره په بشپړه توگه نده ترلاسه کړی اوپه هیواد کی لا دجگړی سوځوونکي اورونه ژبغړانده لمبي وهي. دادغورخبره ده هغه ولس چي دروس غوندی ځواکمن یرغلگراووحشي پوځونه له شرمیدلي ماتي سره مخامخ کولي شي دیوه گوډاگي رژیم دبشپړسقوط په مخه کي یي لاردومره اوږده شوې چې ددووکلونو په تیریدو هم په کابل کې دغه مخ په زوال گوډاگي رژیم چي هیچا یي هم دبقا تصور نه کاوه په ځاي پاتي وي .

دامریکا غږ راډیو پدي رابطه دافغانستان دځینو نوماندو جهادي شخصیتونو اومشرانو سره ځانگړي مرکي کړي،پدي اړه الحاج مولوي جلال الدين حقاني دامریکا غږ خبریال دپوښتني په ځواب کی وویل :

ددی خبري لومړنی اواساسی علت دمجاهدینو ترمنځ دیوی واحدی سیاسی اونظامی اداری نشتوالی اوله مجاهدینو سره دنړیوالو مرستو کموالی دی .

حقانی صاحب زیاته کړه: هغه وخت چی په

افغانستان کی روسی پوځونه موجودوله مجاهدینو سره دنړۍ دزیاتره هیوادونو په سیاسی اواقتصادی لحاظ مرستی اوهمدردی موجودی وی،خوکله چی دمجاهدینو دمقاومت اوقربانیو په نتیجه کی روسان له افغانستان څخه تینبستې اووتلو ته اړشول په دغو مرستو کی بیخی کموالی راغی اوحتی دنشت برابر شوی ، خوپه مقابل کی روسانو خپل مزدوررژیم ته له حده زیاتې وسلی اومهمات پرینبودل اوهم یی ورسره ددرندو اوخطرناکو وسلو اومرستی سلسله دپخوا پرتله زیاته اوګړندۍ کړه اوداسی وژونکی وسلی ګوډاګی رژیم ته ورکوی چی روسی پوځونو دخپل موجودیت په وخت کی هم نه وی استعمال کړی .

له بلی خوا دروسی پوځونو له وتلو وروسته نړیوالو په تیره دمجاهدینو مرستندویه هیوادونه دروس اوکمونیزم له خطر څخه مطمئن شول اودقضیی په رابطه یی عکس العمل اوبرخورد سوړشو،کفری طاقتونو خودجهاد بریالی بهیر خپلو استعماری اهدافو ته سترخطروګانه اودجهاد په اړه یی سیاستونه بدل څه چی له دښمنی ډکه بڼه غوره کړه .

الحاج مولوي نظام الدين حقاني د« منبع الجهاد » سره په مرکه کې :

مجاهدین باید دکفري طاقتونو په وړاندې متحد اوپیاوړی دریځ غوره کړي

پوښتنه : تاسې چې نوی دجهاد له مورچل څخه راغلي یاست ، هیله ده دخوست په شاواوخواکې دجهاد په څرنګوالي رڼا واچوی ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم
دخوست په شاواوخواکې داډیره موده وشوه چې منظمه جګړه روانه ده ، مجاهدین په پوره شهامت دملحد رژیم له قواؤ سره جنګیږي ولې یوه خبره چې مجاهدینو ته مهمه ده،داده چې عام خلك ، ښځې سپین ږیري اوماشومان باید پدې جنګ کې تباه نشي ، ځکه داعاجزاوبې وسه خلك دي ، پدې منځ کې ځینې داسې خلك هم شته چې حکومت هغوی په زور ګیرکړي ، نولدې امله مجاهدین په خپلو بریدونو کې تردیره حده احتیاط کوي ، بلکه داده چې اوس اوس دمجاهدینو داکمالاتولپاره هم څه پروګرامونه ترلاس لاندې دي ، نورانشاالله په خوست کې دمجاهدینو اوجهاد وضعه ډیره ښه ده ، پدې مخکې شپو کې مجاهدینو یوه طیاره وغورځوله ، یوه یې په هوایي میدان کې تخریب کړه ، له بلې خواهره ورځ لس ، پنځه تنه له هغوی څخه راتښتي ، اومجاهدینو ته تسلیمیږي ، دحکومت وضعه ډیره خرابه ده ، دهغوی اکمالات دطیارې له لارې کیږي ، چې هغه هم کله لویږي اوکله سلامتې لاړې شي ، خوست به انشاالله حتماً فتحه کیږي ، خوزما په نظر یوازې دخوست فتحه دومره اهمیت نلري ، مجاهدین باید خپل ټول قوت اوقدرت دکابل دفتحې لپاره متوجه کړي ځکه اصلي هدف دکابل فتحه ده زموږ کوشش دادی چې دکابل رژیم په سرحد کې مصروف وساتو ترڅو په کابل کې مجاهدین خپل عملیات په بریالیتوب سره ترسره کړي .

پوښتنه : په افغانستان کې دژمي موسم دی اویخني په خورازورکې ده ، ستاسې په نظر دیخنی موسم به دمجاهدینو دعملیاتو په وړاندې خنډ نه وي ، که پدې هکله معلومات راکړی ؟

ځواب :دټول افغانستان هوا یو ډول نه ده ، ځینې سیمې لکه جلال اباد ، قندهار، خوست پدې ځایونو کې هوایوه اندازه نرمه اوښه ده ،

دمنبع الجهاد
البم







اودمجاهدینودعملیاتو په لاره کې خنډونه واقع کیږي اوداسې سیمې لکه ګردیز ، کابل ، بامیان اونورې مرکزي سیمې څه ناڅه سړې دي خوځومره مشکلات چې مجاهدین دیخنۍ په وجه لري ، همدومره تکلیف درژیم سره هم دی ، که څه هم هغوی ټانکونه اوګرم لباسونه اومدرن وسایل لري ، ولې بیا هم الحمدلله مجاهدین له واورې اویخنۍ سره عادت شوي ، په واوره اوتکلیف کې خپل مورچل نه پریږدي ، همدااوس اوس سربیره په خوست ، دافغانستان په نورو سیمو کې دمختلفو تنظیمونو مجاهدین په یخو واورو کې درژیم پرضد په عملیاتو کې مصروف دي.

پوښتنه : دافغانستان په عمومي سطحه دجهاد اومجاهدینو اوسنی وضعیت تاسې څه ډول ارزیابي کوی ؟

ځواب : مجاهدین دجهاد له پیل څخه تراوسه دعقیدې اوایمان په وسله جنګیږي ، دمجاهدینو په عقیده اوتصمیم کې کوم بدلون ندی راغلی ،اوهماغه ډول درژیم پرضد په جهاد لګیا دي ، ځینې داسې کسان هم شته چې تبلیغات کوي ، هغوی ددښمن افرادوي ، نوردمجاهدینو په جهاد کې څه سست والی ندی راغلی مجاهدین

> روس اوامریکا دواړه کفري طاقتونه دي اوزموږ مبارزه دکفر پرضد روانه ده اودغه دواړه طاقتونه دمسلمانانوګډ دښمنان دي اودمسلمانانو لپاره پخپلو منځو کې پوره یووالی هم لري

په دې عقیده دي ، چې که موږباندې هرڅه ودریږي اوکه موږ ته ځوك اسلحه اومهمات هم رانکړي ، موږبه خپل جهاد ته ادامه ورکوو ، او ترهغې پورې چې دنجیب رژیم موله منځه نوي وړی خپلې مبارزې ته به دوام ورکوو، نولدې څخه معلومیږي چې دجهاد اومجاهدینو اوسنۍ روحیه ډیره قوي ده.

پوښتنه : دنجیب حکومت تراوسه ولې له منځه ندی تللی ، ستاسې په نظر ددې عوامل څه دي اوددې مشکل دحل لارکومه ده ؟

ځواب :په مشرانو کې اتحاد نشته دنجیب رژیم چې تراوسه پاتې دی ، داددې معنی نلري چې هغه زوروردی ، اویا مجاهدین کمزوري دي ، ددې علت زما په نظر درهبرانو بې اتفاقي ده ، چې هغوی یو واحد قیادت نلري ، مجاهدین هم پدې سوچ کې دي ، چې که موږ کابل فتح کړو ، نجیب

له منځه لاړشي ، زموږ مشر به څوك وي ؟

دنجيب رژيم ددې اصلاً تراوسه پورې پاتې شوى دى ، په هغه ورځ چې دارهبران په واقعي توګه سره اتحاد وکړي اويو واحد قيادت وټاکي اومجاهدين دکابل له څلورو خواو څخه خپل عمليات کلك اوتيز کړي انشاالله دکابل رژيم به ختم وي .

پوښتنه : مولوي صاحب لکه چې تاسې وويل دنجيب رژيم دختمولو لپاره درهبرانو اومجاهدينو کامل وحدت ته ضرورت دى ، ستاسې په نظر دمجاهدينو دبشپړې فتحې اوديوه واحد قيادت دجوړيدو لپاره کومه لارعملي اومؤثره ده ؟

ځواب : مؤثره اوعملي لارزماپه نظر هغه ده چې خداى (ج) ښودلې ده ، داسلامي شريعت اوعلماؤ فتوى‌بايد وغوښتل شي ، اودشريعت اوعلماوو فتوى داده چې بايد اهل حل وعقد کښيني ، هغوى له خپل مينځ څخه يو تن اميروټاکي چې هغه ددې کاراهليت ولري ، زما په نظر ددې مسئلې يوازينى دحل لارداده ، داچې

وروړمولانا محمد يعقوب شريعت يارميانوازشريف ته دصدراعظمي دعهدي مبارکي اوډالي وروکوي

څېنې خلك راى ګيري اويادجهاد اوهجرت سابقه مطرح کوي ، دابه دحل لاره نه وي .

امير بايد اهل حل وعقد وي ، هغه بايد عالم وي ، پوه وي ، په سياست پوه وي ، په جهاد کې يې برخه اخستې وي ، اوداسې سړى به داهل حل وعقد شورى وټاکي .

پوښتنه : دروس اوامريکا دګډو سازشونو په وړاندې ستاسې په نظر بايد جهادي قيادت کومې لارې



اوپروگـــرامـــونـه ترلاس لاندې ونیسي؟

ځـــواب : روس اوامـــریکا دواړه کفري طاقتونه دي ، اوزموږ مبارزه دکـفـــر پر ضـد روانه ده ، اودغـه دواړه طاقـتـونه دمـسلمـانانو گـډ دښمنان دي ، اودمسلمانانو لپاره په خپلو مینځو کې پوره یوالی هم لري هیڅ کله یې هم دمسلمانانو په خیر باندې کوم کارندی کړی اونه به یې وکـړي ، امـریکا اوروس دواړه

دمـسلمـانانو له بې اتفـاقۍ څخـه استفاده کوي اودهغوی په منځ کې خپل آسان زغلوي ، نومسلمـانانو ته باالخصوص زموږ جهادي رهبرانو ته په کارده چې له نفاق څخه لاس واخلي اوددې کـفـري طاقـتـونو په وړاندې متحدانه عمل وکړي .

پوښتنه : له محترم مولوي خالص سره ستاسې په وروستۍ ملاقات کې دجــهـــاد ، ســیـــمې اونړۍ دوروستیو حالاتو په رابطه څه نوي مـــسـایل مطرح شـول اوڅـه نوي مواقف اتخاذ شول ؟

ځواب : مـولوي صـاحب خـالص دجهاد اورهبرانو له اوسنۍ وضعې څخـه یوڅـه دلسـرده دي ، داچې رهبـران په یوه واحد قـیـادت باندې نه راټولیږي له دې مسٔلې څخـه



شکایت لري .

لکه تاسې چې خـبـریاست مـولوي صـاحب تللی ؤ دننگرهارولایت ته اواوس هـم پـه نـنـگـرهـارکـي دی،مـولوي صـاحب داسې تصـمیم لري چې که جهـادي رهبـران په یوه واحد قـیادت باندې فیصلې ته ونه رسیدل نودی به ځي په ننگرهارکې

به له خپلو مجاهدینو سره اوسیږي.

دی وایي چې دافغانستان په دننه کې دمـجـاهدینو په څنگ کې دده موجودیت ترپیښور نه گټوردی .

پوښتنه : مـحـتـرم مـولوي صـاحب دمـرکې په پای کې هیله لرو چې د« منبع الجهاد » لوستـونکو ته څه پیغام اوهمدارنگه ددې مجلې چلونکو اومنسـوبینو ته کـه څـه هدایت لری مهرباني وکړی ؟

ځــــواب : هغــه وروڼه چې پدې مجله کې مسؤلیت لري هغوی ته زما پیغـام دادی چې دوی دې ددې فرهنگي اوقلمي جهاد په برخه کې خپل کوششونه نورهم گړندي کړي ، ځکه دا د جـهـاد یوه مـهـمه برخـه ده ، اوکـوم مجـاهدین اومهـاجرین چې دغـــه مـجلـه مطالعـه کـوي هغوی ته مې هم داپیغـام دی ترڅو ستاسې لدې جهاد څخه گټه واخلي ، دجـهـاد په اهمـیت باندې ځانونه پوه کړي اودجهـاد سنگرونه تاوده وســاتي دجـــهـــاد پـه لارکې دې دمشکلاتو اومصیبتونو څخه ویره ونکړي . والسلام .

دروسي عسكرو دوتلو ورځ

س ـ ش

اې دنړۍ خلکو نن تاریخ بیا لیکل کیږي
دوه سترګې څلورکړی ، داورځ بیا نه لیدل کیږي
دې شاهکارته ځیر شی ، داپه هرساعت کې نشته
څوقرنونه تیرشی څودانوربیا وچلیږی
نن دآزادی مشال یاغی یاغی شغلې کړي
نن په خړځادرۍ افغان ټول جهان نازیږي
نن میرویس ویاسی دلیڼن ځنی کوکارې
هرزورته قالب شته هرفرعون ته یو موسی
حق دزور قالب دی دجادو ایمان دوا
څنګه چی لوی درمن ته وړوکې سپرغۍ بس ده
هسې سره ښامارته خړه کی افغان پیدا
مه ستایه دسترو قدرتونوتوره ماته
نه سوځي دحق سترګې له تالندې بریښنا
حق په دنګو غرونو خیژولي خپلې لارې
ته په موږ نالوستو شړۍ پوشو غولیدلی وې
ته زموږ خوارۍ اوسادګۍ دیرتیرایستلی وې
تازموږ په لاس کی یوم لیده ، توره دې نه لیده
سپوروې دغروریه ټانك کی نورله عقله پلی وې
ستادایماندارواوخپلواکو سره سرنه ؤ
ته په سوله ییزو مظلومانو ښه غښتلی وې
چانه وې څیرلې ستاظالم ژامې خونکارې

جهاد دشعراوادب په پلوشو کې

په افغان ولس چې چاکړی یرغل دی
ګڼه داسې چې راغلی یې اجل دی
پدې خاوره کې څه بل شانې تأثیر دی
هردښمن شکست خوړلی په هرپل دی

دڅوکسوخودغرضوله خطره
دقدرت دلیونو له شوراوشره
چې رهبردرهزنۍ کانې راواخلي
قافله به خود روانه وي بې سره

سیلاب وړی وم

اورنګزیب ارشاد

یوخواتیرتاریخ ته دسوچونودریاب وړی وم
زه یی دحالاتو سمندرته غرقاب وړی وم
لړۋلیونی شم خوب وخیال په شتاب وړی وم
ځان ته په سودا کی دښویدو حساب وړی وم
زه یی ددوستی په بیداری کې په خواب وړی وم
ګیر شوم په چرو کی چی خونکاره قصاب وړی وم
روند شومه زه هلته چی بیکاره می سوچونه وو
پوی نه وم چی څنګه رانه وران دژوند کارونه وو
پټی سترګی پروت وم په غفلت کی می خوبونه وو
هرخواته له درده می وچته فریادونه وو
ورك می سپیرو خاوروکی ښایسته ښایسته لالونه وو
خدایږو کومی خواته دغمونو سیلاب وړی وم
اوس چی تاریکی کی دبریو قمروینمه
دغه خوب اوخیال دی که په سترګو دلبروینمه
زه یی په وینا کی مرغلری ګوهروینمه
ګورمه سپیدوته نښانی دسحر وینمه
اوس په هره خواکی دژوند نوی منظروینمه
ښه ده چی راویښ شوم که نه بل شان عذاب وړی وم
نور به په اغیاروباندی هیڅ اعتبارنه کوم
نوربه بی تدبیره دژوند هیڅ یوه چارنه کوم
نوربه فیصلو کی اورنګزیبه تلوارنه کوم
هسی به بی ځایه بی عمله ګفتارنه کوم
ځمه دهدف په لورسکون اوقرارنه کوم
پوه نه وم تراوسه څه حساب اوکتاب وړی وم

ځانځاني

امان الله نصرت

خزانی دبیت المال می ښا ماران خوري
څوك مې وينې څوك مې سر خوري څوك مې ځان خوري
ګډودي اوبې نظمي ده هرې خواته
نن رمې زموږه څکه شرمښان خوري
سرنوشت مو تهاكل كيږي جينوا كې
دوطن غم به مو كله رهبران خوري
اتحاد په دولس كالو كې ونه شو
كه هرڅوهم قسمونه مومشران خوري
هر يوه ځان ته جوړكړی سلطنت دی
خوږوطن موخلق پرچم غوندې دهريان خوري
خودسري ده اوجوړشهرناپرسان دی
څوك وزې خوري څوك پسونه څوك اوښان خوري
بعضو بعضو دي پيلان په بډه كړي
بيا دعوه كاندي چې غم دمسلمان خوري
دكابل ميوې شوې پاتې له طوطيانو
نن يې ګوره تورکارغه دهندوستان خوري
دغه واړه بركت دځانځانی دی
چې ثمر مو دجهاد يو څوكسان خوري
خدای (ج) يې هير، وطن يې هير، قيامت يې هيردی
په پيسو خرڅوي دين خدايږو ايمان خوري
اې « نصرته » چې ساروان يې شي بې لارې
غلچكي تل دهغوخلكو كاروان خوري

تکل

ومې ليدل !

محمد زبير « شفيقي »

ومې ليدل ، ښه مې وليدل - په دواړو غبرگو سترگو ، نه ويده وم اونه بې حاله د حال په نړۍ کې مې ليدل ، هماغه سترانسانان چې کاينات يې عظمت ته سلامونه کوي هماغه وياړلې هستې چې پرښتې يې په مقام اودرجو رشك كوي ومې ليدل - رښتيا چې ډېر سترانسانان وو، رښتيا چې عجيبه بنيادمان وو.

په تنديو کې يې دنور کرښو دروښانه لارې اوراتله انجام گواهي ويله ، موسکيو خولو يې دهغو ارادو او ځواکونو نه پرده پورته کوله چې غرونه اوبوي ، گړنگونه لاندې کوي اوزبر ځواکونه په گونډو کوي .

ومې ليدل ، ښه مې وليدل هغه تندي چې له لويو لويو حادثو سره دټکر حوصلې اوټکلونه پکې ځليدل ، هغه چې ترځينونو لاندې ځيتيدلو ته تيارو خوبې له خدايه دبل په مخکې ټيټيدوته نه ، هغه ټټر چې درقيبه گوليو اوخنجرته سپر ولاړوو هغه سينې چې انساني مينې ډك زړونه پکې وو ، هغه درانه درانه گامونه لکه دهندوکش اوسپين غر غرونه ! چې پرمخ تلل خو په شانه تلل اوپه هرقدم كې ئې دفتحې اوبري سل زيرى اوريدل كيدل ، داسلام دفتحې ، دحق دسوبې اودحقپالو دبري زيري !!

ومې ليدل ، ښه مې وليدل دخوست په خپو پړو غونډيو اوغوړونوکې هغه گلالي زلميان چې هغه خپې غونډۍ يې دگلستان په څير ښايسته کړې وې هغه ټنکي ځوانان چې دحق ددفاع لپاره يې وسله په اوږه وه .

ومې ليدل هغه لښكريان چې خپل فاني ژوند يې دابدي ژوند دگټلو لپاره په بيه اخولى ؤ ، هغه تل ژوندي مې وليدل رښتيا چې په خولويې فاتحانه موسکا غوړيدلې وه .

هغوى فاتحين وو ، هغوى ميدان گټلى ؤ ، هغوى فاتحين ځكه وو چې خپل مرگ يې ځلى ؤ او دابدي ژوندون پرجاده يې دتگ تکل کړى ؤ !

هوکې ، ومې ليدل ، داسلام دلارې توريالي غازيان چې په خپو سورځلونو کې دابدي سعادت «شهادت» په تمه پراته وو ، نووايم چې له موږ سره يې دغه سعادت په برخه اوسه ...

په پښتو ادب دافغان جهاد اغېزې

همیش خلیل

دافغان دننگ دتورې له خرپاره
داویده دنیا له خوبه شوه بیداره

پښتون هغه واحد ملت دی،چې من حیث القوم یې اسلام قبول کړی دی بیا داسلام دقبولیت نه پس دومره په اسلام مین شو ، چې داسلام نه پرته یې نه صرف هرڅه ته شاکړه بلکې داسې یې داهرڅه هیر کړه چې اوس څوک دانشې ویلی چې گنې دغه ملت هم څه داسلام نه وړاندې خپل ادب اوثقافت لرلو اوبیا داسلام په رنگ کې داسې رنگ شو لکه چې عن هم داسلام نه پس داملت پخپل وجود کې راغلی دی حالانکه داسې ددېرو نخښو نښانو موجودیت حقیقتونه نن هم ددغه ملت کم ازکم دپنځو زروکلونو په لرغونتوب اوقدامت گواهي لري .

بیا په حیث دمسلمان دغه ملت چې جهاد ته کوم اهمیت ورکړی دی هغه دده له تاریخ نه جوت دی چې پخپله خاوره دهرجارحیت خلاف ددغه ملت دژوندهرې شعبې وگړیو کوم کردارلوبولی دی هغه که دښمن په دنیوي وسایلو هرڅومره هم شتمند وو ، خوپخپله اسلامي اوپښتني جذبه یې مات کړي دي او ترننه یې خپل دغه دمیړانې اوسربازۍ روایت ژوندی ساتلی دی .

دشهادت اصطلاح چې عام طورورته داسلام دسرلوړۍ دپاره دخپل سرقربانولو معنی اخستلی شي خپله هم په قران عظیم الشان کې یې ذکر راغلی دی اومؤمنانو ته یې ددې امر تائید کړی دی چې داشهیدان مړه مه گڼی بلکه داژوندي دي .

ترجمه :- ... اوهغه خلک چې دالله تعالی په لارکې ووژل شي هغه مړه مه گڼی - بلکې ژوندي دي خوتاسو نه پوهیږئ (سورة البقر....١٥٤) دشهادت ددغه اعلیٰ مرتبې په وجه مسلمانان داسلامي تاریخ په هردورکې داسلام دسربلندۍ دپاره دخپلو سرونو دنذرانو په ورکړه همیشه دپاره ژوندي دي اوژوندي به وي .

داسلام دسرلوړۍ اووطن دازادۍ په خاطر دغه ملت چې په افرادي،جنگي اودولت په قوت اوشته مندۍ معمور دروس غوندې کوم سوپر پاورته ماتې ورکړه هغه هم ددغه لازواله جهادي جذبې برکت وو دافغانستان په تاریخ کې دتولونه په دغه اوږد اوطویل جهاد کې چې دغه ملت په

هرمحاذ دخپلو سرخرویو اوکامیابیو کوم بیرغونه جګ کړي دي دغو محاذونو کې ادبي محاذ هم دقلم په وسله چې دجهاد کوم رول ولوبولو ، هغه ددغه طویل جهادي دورپه مختلفو اخباراتو اومجلو کې هغه دوامي نقشونه دي ، چې دافغانستان په تاریخ کې بې دیو ځلنده باب حقیقت خپل کړی دی

په دغه اوږده موده کې افغان جهاد چې په پښتو ادب کوم اثرات مرتب کړي دي بیشکه چې دجهاد فلسفې ته دتقویت رسولو علاوه دملي اَونورمذهبي ادب په تقویه کولو اوترقی‌کې هم لوی لاس لري اګرکه په حیث دیو مسلمان ملت له پیله هم پښتو ادب کې دهرقسمه په مذهبي موضوعاتو کافي ادبي سرمایه موجوده وه ولې دروان جهاد په وجه چې پښتو ادب کې کومه اضافه وشوه یقیناً چې هغه اوس په نورو موضوعاتو ډیره درنه ده .

لکه ما وړاندې عرض کړی دی چې افغان جهاد دجهاد فلسفې ته‌ کافي تقویت رسولی دی نوراځي چې اوس په دغه هکله دیو افغان شاعر ایماني جذبه وګورو .

زمانو ته یم معلوم دننګ په کارکې
سربه ورکړم داسلام اووطن لارکې
دښمنان اوبدبینان پکښې لمبه شي
تأثیرونه دي عجب په دې کهسارکښې
بریالی به دجهاد سنګر نه ستون شم
داقوت مې دی په عزم اوایثارکې
مجاهدله توپ اوټانکه نه ویریږي
لوی طاقت وي دجهاد توره تلوارکې
وخت منصورنه امتحان دمینې اخلي
دجانان ښایست ځلیږي هردیوارکې

(پاکې وینې)

هم دجهاد په ضمن کې یوبل افغان شاعر چې دظلیم خلاف توري ته لاس کړو نوداسې ناره یې پورته کړه

زړه مې دایمان دروڼ مشال لمنه ونیوه
لاسو مې دتورې اودډال لمنه ونیوه

هم دغه شاعر بیا وړاندې وایي.

ازادي ده دسروو وینو په بهیر کې
دغه لاره ده دسر اومال بائیللو
چې سرونه ورکوي دخدای په لارکې
هغه قام نه دی دسردتیتولو

(مزلونه اومنزلونه)

بیا یو بل شاعر توپك په لاس سنګر ته روان داسې وایي.

نه ایږدم توپك په ځمکه
چې سنګر مې ځای مدام شي
ځوهیواد مې خپلواك نکړم
دجنګونو به دوام شي
چې شهید دپاك مورچل شم
چې مې هلته سپك تمام شي

چې په غیبوه کې دخاورې
مـــې تنـــه پته مـدام شي
(رنځونې څپېکې)

یوبل مجاهد شاعر دافغان مجاهد خاصیت په دغو الفاظو بیانوي .

میره هغه دی چې نرمري په میـدان مري
دوطن په مقدس عهد و پیـــمان مـــري
وطـن نه پلـــوري دبل غـــلامي نکـــړي
افغان زیږي ، افغان ژوندکوي افغان مري
(ډلې اوګولې)

دغه رنګ یوبل شاعر دجهاد دجنبشونو اوملت دیووالي اواتحاد نتیجه په دغو الفاظو ښايي .

چې شـــروع دآزادۍ کـــړي جنـــبشونه
نه ماتیږي نه شکست خـوري اولسـونه
قرباني باندې منـــزل تـه خپل رسیـږي
اولســونه لري دیــرزیات قـــوتـــونــه
تینګیدی ورته جهان کې هیڅوك نشي
مقابل کې هـــرقـــوت خوري شکستونه
(دازادۍ ارمان)

دپورته ذکر شوو اودغه شان په زرګونو اشعاروله مفهومه اوس دااندازه لګول ګرانه نه ده چې په پښتو ادب دجهادي رجحان څومره ژوراثرات دي اوهم ددغه فکرنتیجه ده چې افغان ملت یې ژوندی اوهره پیښه کښې کامیاب اوسرخ رویه ساتلی دی

بیا په داسې حالاتو کې چې یو جارح پخپل طاقت مست محض په خپل خیال په یو کمزوري ملت دخپل اقتدار خوبونه ویني اوبیا ددغو خوبونو دتعبیر دپاره دانساني او اخلاقي اقدارو پریوتې تولې حربې پکار وي اوظلم ، جبر اوستم هره حربه وربانديې ازمايي څنګه کیدای شي چې دداسې ملت ادیب ، شاعر اودانشورجهاد دمقدس مقصد اوهدف دپاره لکه دیو مـجـاهد دتوري له خـپله قلمـه کاروانخلي ؟ اوپه خپلو اشعارواوقلم په زوردمجاهدینو په وینه کې حرارت پیدانکړي داحقیقت پخپل ځای دی چې افغـان لیکوالو دجهاد په دغه دورکې له خپلو قلمونو اوفکرونو کـوم کاراخستی دی هغه ډیر عظیم دی او په قول دیوه فیلسوف چې دیو مجاهد ګولۍ کله کله ددښمن له سینې خطا هم لاړه شي ولې دیو قلمکاردفکر نخښنه چیرې هم نه خطا کیږي .

وینو دافغان خورو ورو سیمو ته لاروکړه
زه یې قاتلان دمرګ په زیري ناکرار وینم
چیغې دتکبیر چې زمزمه شوې په کشمیر باندې
بیا دسومنات اوړاني پت پیښې تکرار وینم
شفیقي

عرفان ختك ځوان اوحساس وينا وال چي شاعري يې له اسلامي اوافغاني اقدارو څخه مالا مال ده

شهرت ننگيال

ښاغلی محمد عرفان ختك د خوشحال باباد قبيلې زلمی شاعر دی چي په ۱۹۶۳ ميلادی کال د ډسمبر په ۲۱ نيټه داکوړې په ننگيالۍ خاوره د ښاغلی طاؤس خان په کورکی زيږيدلی دی ، دی دخوشحال باباد ادبی نغری هغه روښانه بڅرکی دی چې دهغه دمقصدی فن په نيغه لارڅای په ځای ځليدلی اودوخت په مړو ايرو کی يې همغه تودوخه اوځلاساتلی ده . عرفان ختك دپيښور پوهنتون نه دځوارلسم ټولگی دگری ترلاسه کړی او اوس داکوړې په يوه ښوونځی کی ښوونکی اوورسره د خوشحال دادبی ثقافتی جرگی مطبوعاتی سکرتر هم دی. دنوښار دمرکزی پښتوادبی جرگی دسترسکرتراوداکوړې پاکستان خوشال ادبی جرگی ددوهم سکرترپه توگه يې هم ادبی فعاليتونه اوخدمتونه ترسره کړيدی .

دی دخوشحال بابا دادبی گلبڼ يو تنکی گل دی اولکه خپل باباد افغان په ننگ يې دخپل قلم توره ترلی اودننگ پدغه لارکی په خپلو درنو، پخواونه ستړيدونکو گامونو سره دحق اوآزادی له کاروان سره خپل يون جاری ساتی .

ده په همغه اکوړه کې دنيا ته سترگی غړولی چی دخوشحال باباوصيت پکی خور دی :

پښتنانه که بل څه فکرکانـــابوددی

بی له توره خلاصی نشته په بل کار

دعرفان ختك ضمير وينښ اووجدان بيداردی ، دی ځان دخپلو افغان مجاهدو ورونو دننگ په کارکی شريك گڼی ، په توره اوميړانه يې وياړی اونازيږی کوی او په دردونو اوويرونو يې دردمند اوويرجن دی .

ده دافغانانو دجهاد دښمنان دپيغور په درنو کانو ويشتلی اوپخپلو افغان ورونو يې ننگ کړی ، غمشريکی يې ورسره کړی اوخپلی اوښکی اوساندی يې ورسره غبرگی کړي دي .

عرفان ختك دشعر د ميدان په خپل جذباتی کلام گټلی ، دده شعر نه يواځی فنی ښيگړی اوخوبی لری بلکی داسلامی، انسانی اوافغانی اقدارو څخه مالا مال هم دی داځکه چی ده له پيله خپل فن دمقصديت په زانگو کی زنگولی اوځوان کړی دی ، ده له لومړۍ ورځی دقلم په توره دافغانانو په برحقه مبارزه اوجهاد کی فعاله برخه اخيستی اودشعرپه ژبه يې دافغانانود بريمن مقاومت غړغبرگ کړی دی .

ده دافغانانو دجهاد په رابطه په ادبي غونډو کي دخپل ايمان اوپښتونولی تقاضا پوره کړي او ګڼ جهادي شعرونه يي د پاکستان په وحدت ورځپاڼه ، هيواد اونيزه اوابا سين مجله کي چاپ شوي.دافغانانو له جهادي خپرونو سره يي هم فعاله همکاري جريان لري .اودخوږي سندري په نوم يي دروماني شعرونو مجموعه هم خپره شوي او

دجهادي شعرونو پله مجموعه يي د۱۹۸۷ ميلادي کال په جولای کي د«بارود اوايمان» ترعنوان لاندي خپره شوي .

بارود اوايمان دپښتودژوند نی ادب دانقلابي يون اوودي دلاري يوبريالي سفراودآزادي په لارکي ديوه مجاهد اوميړني ولس دقربانيو اومقاومت ځلنده هنداره ده چي دپښتو دانقلابي ادبياتو په تاريخ کي ديوه ځانګړي باب پراخوونکی دی .

پدغه شعري مجموعه کي چي څوك دعرفان ختك هرنظم اوغزل لولي داسي محسوسوي چي ګني شاعر دافغانستان په هرغراوکمر ګرځيدلی اودهرشهيد سرته ناست دی دهرتپي دپرهرونو څريکي يي اوريدلي ، دهري بوري اوګړي ناورين ورمعلوم دی ، دهرکلي په ورانو اوکنډوالو راتير شوي اودبم، توپ اوالوتکي هره ورانه وبجاړه يي پخپلو سترګوليدلي ده .

ځکه خودښاغلي عرفان ختك شاعري دهر زخمي زړه ټکور اودهربيدار ضمير غږګڼلی شي .

عرفان ختك دخپل ننګيال باباد مبارزي دغورځنګ اودپرديو په مقابل کي دمقاومت اوجهاد دتداوم لارخپله کړي اوپه وازکومي يي په ډيره ميړانه اومتانت دخپل قلم په توره پدغه برحقه مبارزه کي ددين اوپښتونولي پالنه کړي .

هغه وايي : زه اول مسلمان يم اوبيا شاعر، ځکه خوهرچيري دمسلمان په درد کړيږم اودهغوی دآزادي غوښتني غږبه ضرور ورسره غبرګوم ځکه خودعرفان ختك فن ديوه اسلامي تحريك اوغورځنګ دمقصدي اصولو مبارز فن دی چي هيڅکله هم دقوميت په محدوده دايره کي نشي ايساريدی.له همدی ځايه ده چي دهغه په فن کي ديوه بين الاسلامي پاخه ترون اوغورځنګ ورانګي له ورايه ځليږي.

عرفان ختك يوښه داستان ليکونکی هم دی،دده لنډي کيسي په ګڼو خپرونو کي خپري شوي ، دافغانانو دژوند اومبارزي په رڼا کي يي هم ډيري افساني ليکلي چي دافسانو يوه مجموعه يي دوخت څپيړي په نوم چاپ ته تيارده ، دوطني شعرونو يوبله مجموعه يي دستاښکلا زمانغمي په نامه چاپ شويده اودافغانستان دجهاد په هکله يي دنويو شعرونوبله مجموعه هم تياره ده.

ښاغلي عرفان ختك له لومړي ورځي دافغانانو دجهاد په بري ګروهمن دی اوددغه جهاد دبري دزيري تراني يي ويلي اويدی معتقد دی چي ايمان پر بارود غښتلی دی .

راځی ددغه ځوان اوانقلابي شاعر دزړه غږاودضمير اوازته په ګوټه غوږکيږدو :

خدايه!

افغان په بروباندي برکړي خدايه!
دازميښتونو يي بهرکړي خدايه!
ته يي په امان له هريو شرکړي خدايه!
پورته يي په شان لکه دلمرکړي خدايه!
دوي تحفظ ته داسلام راوتي
دننګ په چغه دخپل قام راوتي
دخوږاسلام دسرلوړي دپاره
خپلو سرونونه دنګلي دي دوي

دوخت ناترسه گناړونو تـــه هم
سینی راایستي اودریدلي دي دوی
حامي ناصرددوی شی خـپله ربه!
کـړی دنصرت ډیوه یی بـــله ربه !
داپه سرونو یی چی ځلیږي توری
دوی په خوږدین دمصطفی دي مین
مینه په زړه کی خدایه ستالري دوی
پـه تادهرچـــانه سـیوا دي مـین
خپلو عشاقو سره مل شـی خـدایه!
ته یی ساتونکی په هرپل شی خدایه!
کــلـه قانــــون دغـیرمذهـبومني
دادشـــیرشـاه اوابـدالي بچـوړي
داداسلام په خاطر ستیردسره
داغیرتي اوننگیالي بچوړي
تـه دوی ممـتازاوسرفرازکړی خدایه!
بـریی پـــه هرغلیم غمازکړی خدایه!

دغزني باده!

مـــــاله دتالا والا گلشن حـــالونه اووایـه
مــــاته دلا لا اودســـــمن حـــالونه اووایـه
مــــاته دویجــــاړویران چمن حــالونه اووایه
مــــاته دتبـــاه برباد وطن حـــالونه اووایه
سیـمی دپنج شیـرجـلال اباد اوپغمـان ځنگه وو؟
ای دغـــزني باده دوطن شـــهـــیـدان ځنگه وو؟
ا چیرې وطن دپاره تیــــردمـــال اوســره دی
غـشـــو ته ولاړچی په مـیدان بربنډ ځگره دی
کـفن په سرراوتی چی جـهـاد ته سنـه په نره دي
هغـه میـړني مـردمـیـدان باتوران ځنگه وو؟
ای دغـــزني باده دوطن شـــهـــیـدان ځنگه وو؟
ځي چی تل په وړاندي بي ستـمنیـدل چی دچانه دي زده
مـري خـودحق لاره پریښودل چی دچانه دي زده
دوخت خـتلی غـرته تیـتیـدل چی دچانه دي زده
هغـه پوخ اقـراره کلك یقـیني ځـوانان ځنگه وو؟
ای دغـزني باده دوطن شـهـیدان ځنگه وو؟
ځـوك چی دافـغـان اولس دپاره حـریت غـواړي
ځـوك چی سـرلوړي،سـرفـرازي دخپل مـلت غـواړي
ځـوك چی تل ترتله داسـلام نښـان اوچت غـواړي
آدلوړعـظمت دلوړوقـارخـاوندان ځنگه وو؟
ای دغـزني باده دوطن شـهـیدان ځنگه وو؟
آچي سري لمبی اوسره بځري دغـیرت دي ځوك
آچي ختـمـونکي دروسي ابلیت دي ځوك
آچي کلك ملگري بس دحق اوصداقت دي ځوك
اووایه دخدای رسول هغه عاشقان ځنگه وو؟
ای دغزني باده دوطن شهیدان ځنگه وو؟

دوخت تقاضا

قلم مي پورته کـړلو
ماوی غزل لیکمه
دتخیل په نیلی
سورشومه تلمه تلمه
زره راته وي چی راشه
وستایه توری زلفی

په شنوخالونودیار
دسوز غزل ولیکه
زه مبتلا ومه لا
په دغه شش وپنج کی
چی غیرتي ویني می
څریکه کړه ویې ویل:
خدایږو دارنگه نه ده
تقاضانه ده دوخت
چی ستا دورور په کاله
ویراوماتم گډ دی
ستاگاونډی وطن دی
ویجاړاولوټې لوټې
ستاکونډې رنډې ژوندون
دبې وسۍ تیروي
ستابوډاگان سپین سري
کډې په سرگرځوي
چی کوچني ورونه ستا
نهربربنډ پراته دي
اوته لیکی غزلی
دخپل جانان په حسن
داخوت جذبې مې
هم مخ راواړولو
پښتون ضمیرهم راته
داپیغورونه راکړل
مادغزل په تکل
خپل پورته کړی قلم
وینه کی ډوب کړودزړه
بیامی پری داولیکل:

چې آزاد شوي نه وي
افغانستان ترکومه
چی په کورشوي نه وي
بی کوره ورونه زما
چې له زابل اوبامیان
دقندهاراوپکتیا
هم له پغمان اوغزني
هم دکونړ اوتخار
اودلوگراوقندوز
هم دایبك اووردك
دبی دینی جنازی
ترکومه وتی نه وي
دظلم شپه چې ترڅو
سپین سباشوي نه وي
زه به ترهغی لیکم
دورورافغان غزلی
زه به غندمه پکی
استبداد،دظالم

عرض الدین « صدیقی »

ولسي ادبيات

حیدري دجهاد دویارونو اوویرونوشاعر

حیدری دپکتیا په ولسی شاعرانو کی ترټولو اوږده سابقه لری ، دهغه دشعرونو تومنه دټولنی اووګړو ناخوالی اوستونزی تشکیلوی ، دحیدری صیب په شعر کی دانتقام ، استقامت اودټولنی له مظلومانو سره دهمدردی احساس له ورایه ځلیږی ، کله چی لوستونکی د« حیدری » شعرلولی داسی انګیری چی دټولنی دمظلومانو ناخوالی اوبی وسی یی دتلویزیون دپردی په شان له سترګو تیریږی «د حیدری » صیب دشعرله لاری خپل غږ دمظلومانو له غږسره غبرګ کړی ، اودهغوی کړیکی یی دقلم په څوکو کی لاپسی رساکړیدی . حیدری په هغه وخت کی چی زموږولسی شاعران دګودر ، اوزلفو په ستایلو کی ډوب ؤ دټولنی ناخوالی بیان کړی .خپل قلم یی دحق په پلوی چلولی اوخلك یي دژوند مشتواړخونو ته متوجه کړی :

پوهه هسی رنګ دواده
نابینا پری تل بینا ده
داد پوهی برکت دی
چې تسخیر لوړه فضا ده
هریو کارپه پوهه کیږی
پوهه شمع ده رنما ده

حیدری صیب په علاقه دارحیدری شهرت لری ، دخوست ولسوالی داسماعیل خیلو علاقه داری دحیدر خیلو په کلی کی یی سترګی غړولی په اسماعیل خیلو کی دابتدابیه ښوونځی ترلوستلو وروسته یی خپلی زده کړی دکابل ښارکی تعقیب کړی ، حیدری صیب په شاعری کی اوږده سابقه لری هغه په دی باب وایی :

« ما په شاعری د١٣٣٤ کال څخه وروسته پیل کړی په هماغه لومړیو وختونو کی می ځینی شعرونه دوړانګی اوجمهوریت خپرونو کی خپاره شوی که څه هم چی څه وخت دژوند ګڼو مصروفیتونو اوخواری مزدوری ددی مجال نه راکاوه چی شعرووایم خودیرغلګرو روسانو په مقابل زموږ دمجاهدینو قهرمانانه پاڅون می یو ځل بیا داجذبه راژوندی کړه اواوس دمجاهدینو داتلولیو دمنعکسولو په لاره کی قلم چلوم »

حیدری صیب دشعرله لاری زموږدروان جهاداتلولی اوحماسی خوندی ساتلی

اوابدي کړي ، هغه په ډيره ښه اوخوندوره توګه يوه پيښه دشعرپه جامه کي رانغاړي اوزموږدوګړو دموراړل دژوندي ساتلواو پيښې دابدي کولو په خاطر يي منعکسوي .

سري لمبې وی دمردکو چی به تلی پورته فضا ته
سخته ورځ دقيامت وه جنګ جګړه وه هري خـواته
زيري لمـــر په دوبيدو ؤ درنګ ساعت پس توره شـپه وه
نابېره مشان جـــــګړه وه دوزي دکـــــلي شاته
په زيات شمير ټانکونه راغلل کور اوکلی يي غلبيل کړل
الــوتکو بمباری کـړل غراوسمـه شـااوخـواتــه
مجاهد ځوانان راټول شول ددښمن پوځونه مـــات شــول
ډيريې مړه څه يي زخمی کړل پاتی نه شول څه سباته
قربانی ځوانانو ورکړه داسلام ناموس جـګړه وه
ميندو خويندو هم په زړه کی داسـلام مينه وه زياته
الخ...

« حيدري » صيب ډير زيات اشعارويلي چي څه يي په کستونو کي ثبت شوي اودمهاجرينو په کمپونو اودجهاد په سنګروکي خپاره شوي اوکوم اشعار يي چي دثورترکرغيرنی کودتا دمخه ويلي و هغه دژوند حوادثو دفنابادته سپارلي ، هغه پخپله په دي باب وايي :

« زما هغه اشعارچي دثور ترکرغيرنی کودتادمخه مي ويلي و دهغو پرته چي په جمهوريت او ... کي خپاره شوي ټول دکمونستانو لاسونو ته ورلويدلي اوبيا له منځه تللي ، اودجهاد په دوران کي يي چي کوم شعرونه ويلي ښايي شمير (۸۰-۹۰) قطعو ته ورسيږي چي زياتره يي په کستونو کي ثبت شوي»

حيدري صيب زموږ دمجاهدينو حماسي اودجهاد خونړي پيښې په ښه خوندوره داستاني اومنظومه توګه بيان کړي داسي چي دپيښو په منعکسولو کي نه زياتي اوبې ځايه خبري ځاي کړي اونه په کټ مټ منعکسولوکي تري بی خونده شوي ، هغه پيښې داسي په الفاظو کي سره پيیلي چي په لوستلو سره يي لوستونکي دسکتګي سره نه مخامخ کيږي ، راځي چي دهغه داشعر چي دجهاد يوه پيښه يي په داستاني اومنظومه توګه پکي خوندي کړي سره ولولو :

پنجـشنه دولس بجی وی شـپـاړس جت راغلی تلوارکی
ريــزمريز يی کــــړه هڅه دګلام خان په سـخت بمبارکی
دســرو وينو سيلاب جوړشو ښکلی رنګ ځوانان قربان شول
شهيـــدان و په سلـګونو لازخمـــيان و په زيات شمارکـی
څوك دخاوروړلانــدی مړه شول څوك داورلمبـــو کی وسول
څوك يی لاس اوپښـــوپراته و څوك په وير او په کوکـارکی
دوکانونه سره لمبـــه شول دظلـــمـونو محشر جوړشـــو
ماشومان داورلمبــو کی لـولپه شـــول په بمبـــارکی
هرانــــسان په وينــور نګ و هــره خـــوا ژړافرياد ؤ
خوشـبويی وه دګـــلـــونو دهر خـوږمنـــو په پرهارکی
دسرو وينـــو دك خـــالـــونـــه هرشـهيدايـښی په مخ وو
لــــکه جوړه چی په خيال شی ښکلی نــاوی په سينګارکی
چی رايــــاد ښــکلی ځوانان کړم ليونی اوګډ په ويـــرشم
دبهار ښــکلی غــوټی وی دګـــلــونو په ګـــلــزارکـــــی
يوه مــورپــه منده راغله په ژړا يــی ســـترګی ســـری وی
دری لمـــــــيان يی قربـانــی ؤ په رضـــا دخدای په لارکی
ژبړ زيـــبنـــلی رنـــګ پراته ؤ داتنکی ځوانان يو ځای کی
لــکه جـوړه چـــی غــــونچه شی دګلونو په سهـــارکی
الخ ...

ننگیال

دافغانستان جهاد اوځلنده فتحه

گرانو لوستونکو !
تاسو به تردې وروسته په هرګڼه کې دافغانستان جهاد دکتاب په هنداره کې ترسرلیک لاندې دهغوکتابونو په باب تبصرې اودهغوی معرفي ولولئ کوم چې دبهرنیو لیکوالانو اوژورنالستانو لخوادافغانستان دجهاد په اړه لیکل شوي . « اداره »

دکتاب نوم : «جهاد افغانستان اورفتح مبین»
لیکوال : مولانا حافظ مشتاق احمد عباسی
ناشر : اداره صدیقیه کراچی
تعداد :۱۰۰۰ ټوکه
قیمت :۳۳ روپۍ
دچاپ نېټه :۱۹۹۰ اکتوبر
صفحات :۲۳۰

په پاکستان کې دانصارو له خوا دافغانستان دجهاد په اړه دخپرو شویو کتابونو اواثارو په سلسله کې یو هم «جهاد افغانستان اورفتح مبین» ارځښتناکه اثر دی چې پدې وروستیو وختو کې په ښکلې قطع اوصحافت خپورشویدی .

ددغه کتاب مؤلف دپاکستان نامتوعالم حافظ مولانا مشتاق احمد عباسي دی اودکتاب زیاتره مواد اومطالب دده خپل دسترګو لیدلي حالات اومشاهدات دي چې په ډیره جذابه، روانه اوخوږه اردویې کښلی دی.

دغه کتاب دمولانا صاحب دجهادي سفرنامې هغه برخه تشکیلوي چې دوی دجهاددسنګرونو په لور خوځیدلی اودحق لدغو سنګرونو څخه یې خپل مشاهدات، تأثرات اوانګیرنې راغونډې کړیدي.ده لکه یوسترګورژورنالست پیښنو اوحالاتو ته په ډیره دقیقه اوژوره توګه کتلي او دخپلې جهادي

سفرنامې له پاره یې داسې مواد پیداکړي چې لوستونکی له ګوتې نیسي اودافغانستان په کمرکمر اوسنګریې ګرځوي اوهرڅه یې نغد مخې ته ږدي .

پدغه اثر کې له بې وسه اوبې کسه مجاهدینو سره دالهي نصرت اومرستې ژوندی نمونې اوحیرانوونکي واقعې ډیر په زړه پورې اندازسره یو له بل سره پیل شویدي .دشهیدانو غازیانو اوجهاد خوارق اوکرامات یې دډیرو آموزنده پیښو په بڼه کې رانغښتي اوړاندې کړیدي .

پدغه اثر کې دهغه روسي پوځ چې په نړۍ کې په نه ماتیدونکي‼ اوپه شانه تلونکی‼ پوځ سره پیژندل شوی دشرمیدلي ماتې کیسه اودافغانانو دقهرمانیو اوقربانیو داستانونه کښل شویدي .

دکتاب په پیلامه کې انتساب ترسرلیك لاندې ځوکرښې لیکل شوي:

(اهداً)

دهغو زرګونو بې وزلو مجاهدینو په نوم چې دځینو دملاقات ویاړالله تعالی زما په برخه ګرځولی.زما ګنهګاروسترګو لیدلي چې ددغو غریبانواومسکینانو جامو ته څومره پیوندونه لګیدلي اوڅومره پاك زړی خلك دي ـ دوی په ډیره میړانه دیوظالم جابرقوت (روس) په مقابله کې په جهاد بوخت دي ، یا خدایه پاکه ته دڅومره عظمت اوقوت خاوندي چې دنړۍ په اصطلاح دپه شانه تلونکي‼ قوت مدعیانو دي ددغو غریبو اوبې وزلو له لاسه شکست اوشرمیدلې ماتې ورپه برخه کړه دداسې مجاهدینو دبې وسی اوبې کسی له توپانونوسره لاس اوګریوان دی-دغه ساده خودایمان په مینه مننت تش لاسي مجاهدین هروخت ستاپه نوم دځان اومال د قربانی لپاره تیار اوچمتو دي دغو مجاهدینو سره تیر شوي وختونه چې کله ماته رایاد شي نوبی اختیاره مې دذوی په یاد له سترګو څخه اوښکې روانې شي.

وریسې دحق کابول بالاهونی والاهی» ترعنوان لاندې دمحترم حضرت شانفیس الحسیني شعر راغلی چې دخوست دویاړمنو سنګرونو او بریمن مقاومت رسا عکاسي شویده .

له هغې وروسته په لنډوټکو کې دجهاد په فرضیت او په افغانستان کې دجهاد په جاري وضعه او حالاتو رڼاچول شوي او بیا دجهاد سفر نامه پیل شوې او دخوست په لور

جهادي سفر نامه له همدې ځای څخه پیلیږي . دلته دده ټول مشاهدات راغونډشوي ډیرې

حيرانوونكي اوخارق العاده پيښې اود الهي غيبي نصرت او مرستې ژوندې نمونې په داسې بڼه كښلي چې دشك او انكار ټول ديوالونه نړوي . بياوروسته دجهاد لاسته راوړنې او دپاكستان د دفاع او سالميت له پاره دافغانستان دجهاد په اهميت او ارځښت ډير په زړه پورې او عملي بحثونه شوي .
دكتاب په بله برخه كې دافغانستان دجهاد مشرانوقومندانانو اوجهادي شخصيتونو دژوند ، مبارزې اوشخصيت په رابطه ډيرپه زړه پور ى او مختصر بحث شوى اوددوى دجهادي،علمي او سياسي كارنامو يادونه شويده .
پدې لړ كې دكتاب په ۱۷۶ مخ كې دامام شامل ثاني جلال الدين حقاني ترعنوان لاندې داسې ليكي :
(امام شامل ثاني الحاج مولوى جلال الدين حقاني)
مولوي جلال الدين حقاني دحقې لارې يوزړور،اودرويش مجاهد او يونوميالى اوگران قوماندان دى ، ددينې علومو دغه جيد عالم دخپلې علمي پانگې ترخنگ يولوى مجاهدهم دى،دحق دلارې دغه ځلانده ستورى دخپل وخت دلوى عالم شيخ الحديث حضرت مولانا عبدالحق صاحب څخه دنبوي احاديثو دوره بشپړه كړې اويه افغانستان كې يې دكمونيزم دخونړي سيلاب دراتگ څخه وړومبى دټولو مخكې په وسله وال جهاد لاس پورې كړ.دكمونيزم دطوفان مخې ته همدغه دحق دلارې قلندر مجاهد دغره په شان ودريد اوددغه خونړي سيلاب مخه يې ونيوله.پرجهاد سربيره يې په ميرانشاه كې يوه عالي ديني مدرسه هم دمنبع العلوم په نامه دطالبانو لپاره پرانيستې ده چې په دې پورې ۸۰ نورې ديني مدرسې هم نښتي دي چې پكې لس زره طالبان ديني اوجهادي زده كړې حاصلوي .
دالله تعالى (ج) دلارې دغه قلندر مجاهد چې دتيرې زمانې دمجاهدينو اواصحابو (رض) يادونه تازه كوي خپله ميړانه دژاوره مركز په جگړه كې هغه وخت وښودله چې د ۳۰ زرو روسي عسكرو خولې يې ورماتې كړې.
دخوست دمحاصرې دماتولو لپاره دروس اودكابل دلاس پوڅي رژيم يولك گډو پوځونو بريدوكړچې پدې كې دروس دسايبريا د داړونكو اووحشي غونډونو څلوررزره گوماندويان هم شامل وو ، ددې دايماني پرتم په وړاندې په گونډو شول اويه شا وتمبول شول . په دې دواړولويونښتوكې چې دلوى زړه څښتن مولوي جلال الدين حقاني په

پراخه تنده په ډيره زړورۍ او بهادرۍ دروسي عسکروسره کومه مقابله وکړه دايـې دتيرې زمانې دسپه سالارۍ يوبل ځلانده باب دی .
دمجاهدينو په يوځای کيدو کې هم دده پوره پوره لاس دی بلکې ګردې هـلې ځلــې دهمدوی دي .
مولوي صاحب جلال الدين حقاني يو بزرګ مزاجه شخصيت دی،دده په دفـترکـې دشـپـيـتـه زرو خواوشاخلکونومونه دجهاد لپاره ثبت شويدي اولس زره مجاهدين يې په مختلفو محاذونوکې په جهاد بوخت دی،دمولوي صاحب ډيرو نږدو خپلوانوهم دشهادت جامونه نوش کړيدي اودمولوي صاحب ټوله کورنۍ په دغه اسلامي جهاد کې شريکه ده مولوي فتح الله شهيد ، شاکرين شهـيد ، انجنير عبدالله شهيد ، شهيدمولوي احمد ګل اوشهيد احمد شاه ددغـوټـولو لويو او نوميالو قوماندانـانـو دخپلوۍ اړيکې هم دمولوي صاحب حقاني پورې مربوطې دي.دده کشرورورقوماندان محمد اسمعيل هم څه موده وړاندې له دښمن سره په يوه مخامخ جګړه کې ټپي اوشـهيد شـو.دهمدغوغوره ځانګړتياوُوله مخې دوی ته د(امام شامل ثاني) لقب ورکړشوی دی داخبره دېادولو وړده چې امام شامل دسمرقند اوبخارايو لوی مجاهد وُ چاچې دټولو څخه لومړی دروس په مقابله کې په روس کې په جهاد لاس پورې کړی وُ اودشهادت جام يې څښلی وو.
دکتاب په پای کې دافغانستان دجهاد په رابطه دپاکستان داوچتو شاعرانو شعرونـه اوورسـره دجهاد دځينو صحنو اوګوښو تصويرونه هم خپاره شويدي .
لنډه داچې نوموړی کتاب دافغانستان دمقاومت اوروانو حالاتو يوه داسې نقشه وړاندې کوي چې په هغې کې دجهاد تاريخي ، سياسي ، اجتماعي او... اړخونه له ورايه اوډير ښه ځليږي اودافغانستان دجهاد دمينه-والو اوخواخوږو معلوماتي تنده پرې ښـه ماتيـدی شـې .
موږ په داسې حال کې چې دغه اثر په پاکستان اواردو ژبې په سطحه دجهاد په رابطه يوډير غوره اوعالي زياتون اواضافه ګڼودمؤلف دجذبې اوايثار دقدردانۍ ترڅنګ ده ته دالله تعالی له دربار نه دزيات اجراوتوفيق غوښتنه کوواوددغه عالي اولوړ اثر دتأليف اوخپراوي مبارکي ورته وايو .

دغوايي له كودتاراوروسته دښووني اوروزنې حالت

ليكوال :عبدالو كيل

په تيرپسې :

٤-په گوندي ، دولتي (استخباراتي)اوټولنيزو سازمانونو كې دزده كوونكو اومحصلينوراټوليدل؛ څرنگه چې نوي ځوانان دروانې ، عاطفې اوشعورله اړخه په خورا نازكه اوبحراني مرحله كې قرار لري نوښوونځي اوپوهنتونونه دروسانو دنظريو اوهدفونودعملي كولو لپاره ډيربنه چاپيريال وګڼل شو داوجه وه چې په نوموړوعلمي اوفرهنگي مؤسسو كې يې په گوندي جاسوسي اوټولنيزو سازمانونو جوړولو زورواچاوه .

هغه زده كوونكي اومحصلين چې نوموړوسازمانو ته جذب كيدې په ښوونځي اوپوهنتون كې يې دښوونې اوروزنې سره رابطه قطع كيږي اوددرسي زده كړې په بدل كې دذكر شويو سازمانونو دندې سرته رسوي .

په ښوونځيواوپوهنتونونو كې گوندي اودځوانانو سازمانونه اوورسره په څنگ كې دجاسوسې ښځو ، مخكښانوا و صنفي اتحاديو سازمانونه دبداخلاقۍ اوفسادمركزونه هم دي.دځوانانو سازمان پورې تړلي كلوپونه ، اودرقاصۍ ، تياتراوسينما يې كورسونه كوم چې ددې سازمان له خوادايريږي تنكي ژني اوپيغلې يوځاى تمرين اومشغوله كوي دغه ژني اوپيغلې جنسي بې بندوباري ، دشپې اوورځې هرچيرې پاتې كيدل اويوځاى ژوندكول دكمونيزم بهترين سوغات بولي .

په روس كې دثانوي دورې ژني اوپيغلې هم يوځاى تحصيل كوي چې دنوموړوپيغلو اوژنو جنسي بې بندوباري حتى روسان په فكر كې واچول اوپه ١٩٨٣م كال كې ددولت له خوا په نظر كې ونيول چې بايد ددغو زده كوونكو په درسي پروگرام باندې په غير قانوني سن كې دجنسي عمل سره داحتياط كولو په اړوند يومضمون ورزيات شي ترڅو دځوانانو په افراطي جنسي مصروفيت كې ددولت دخوښې تغيرات راشي .دخلق اوپرچم باندونو هم دروسانو لاره پله په پله تعقيب كړه اودغوايي له كودتا څخه وروسته يې دنجونو اوځوانانو يوشمير ليسې سره گډې

کړې چې دهغې جملې څخه په ۱۳۵۷ هـ ش کـال کې دهلمند ولايت مرکزدلشکرگاه ښاردنجونو اوهلکانو ليسې يوځای کول ؤ چې ډيربد عـواقب يې په ځـای پاتې شول .

په همدې ترتيب سره هرکال په کال کې څوځله دابتدائی اومنځنيو ښوونځيودمخکښانو (دنجونو اوهلکانو دټولنيز سازمان نوم دی) اوليسو دځوانانو سازمانوٌدنجونو اوهلکانو گـډې ډلې دژمني ، پسـرلني اوداوړي دتفـريحي رخصتي په نوم دشپې اوورځې يوځـای (دڅـواونيـو اويا ميـاشـتـو له پاره) گډژوند پيل کوي په دې موده کې داتنکي ژلمي اوپيـغلې چې ځنې يې دبلوغ په درشل کې قـرارلري ، دورځې له خوا دفـيزکلتـور، رقص ، سندرو، اوقصـو ويلو ، دروسانو کلتـوري اوفرهنگي مرکزونوليدل ، دروسي اودهغـوی دمـزدورو عـسکري قطعـاتو اوجزوتامـونوڅخه کتنه اوداسې نورکړه وړه سرته رسوي. څرنگه چې په دې اړوندتبعيض نه خوښوي نودشپې لخوا هم هلکان اونجونې يوځای استراحت اودخپلې خوښې چارې کوي نو په حقيقي

> په ښـوونځـيو اوپوهنتـونونوکي گـوندي اودځـوانانو سـازمـانونه اوورســره په څنگ کي دجـاسـوسي ، ښـځـو ، مـخکښانو ، صنفي اتحـاديو ، سـازمـانونه دبداخـلاقي اوفـساد مرکزونه هم دي دځوانانو سـازمـان پوري تړلي کلوپونه اودرقـاصي ، تياتر اوسينمايي کورسونه کوم چي ددي سازمان له خـوا دايربري تنکي ژلمي اوپيـغلي يوځـاي تمرين اومشغوله کويږ دغه ژلمي اوپيـغلي جنسي بې بندوباري دشپي اوورځي هرچيـري پاتي کـيدل اوگرځـيدل دکمـونيزم بهـترين سوغـات بولي.

ډول سره کله چې نوموړی پروگرام پای ته رسيږي هرزده کوٌنکی خپل کورته دعيش اوساعت تيرۍ نوي ډولونه دځـان سـره وړي چې په واقعيت کې نوموړی زده کوونکی په اخلاقي ، رواني اوعاطفي لحاظ په بشپړ ډول سره دټولنې څخه جلاکيږي .

برسيـره پردې دگـوند اوځـوانانو سازمان زده کوونکو اومحصلينو (ژلمي اوپيغلې) گـډې گـوندي ، سازماني اونظامي چارې نه يوازې تعليـمي اودزده کړې پروسـه دنه جبران کيدونکي خطر سره مخامخ کوي بلکه په اخلاقي اوروحی لحاظ دنوموړو ځوانانو ژونداوراتلونکې ته غټ خيـانت دی ، په دې ښه دټولنې راتلونکي تنکي گلبوټې په څيري کوونکو ازغوبدلوي .

دکـابل په ښـاراوپو شـميـر نوروښارگوټو کې کوم چې دروسانو لاسپوڅي رژيم ترتسلط لاندې دي دويډيو فلم بې شـميـره صالونونه چې سکس (بربنډ) فلمونه پکې ښودل کـيږي ، په سينمـا گـانو اوتلويزيون کې دهندي تجـارتي اوروسي فلمونو ښودل په عمـومي ډول په نوي نسل اوخصوصاً په زده کـوونکواومحـصلينو باندې ناوړه اثرات پريښودل هغوی يې دواقعي

ژوندڅخه جلاوداسې خيالونو اوهوسونو کې ډوب کړل چې عملي کيدل يې په اوسني عصرکې په هيڅ صورت امکان نلري اوددوی اخلاقي اړخ ، شخصيت اوحيا يې په فحشا اوبې بندوباري تبديل کړل.

هغه زده کوونکي چې دليسې څخه لانه وي فارغ التحصيل شوي په دې امتيازچې وروسته دعسکري له تيرولو څخه دبکلوريا شهادت نامه ورته ورکول کيږي اودزده کوونکي دخوښې پوهنځۍ ته دکانکورله ازموينې څخه پرته داخليداى شي دعسکري ته جذب کړل اوکله چې دنوموړوزده کوونکو څخه يو شمير ژوندي پاتې شي نوپه رښتيا چې بې دکانکور له ازموينې څخه پوهنتون ته داخليږي نودا څرگندمطلب دی چې که چيرې نوموړي زده کوونکی دعسکري له تيرولو څخه پخوا دپوهنتون لياقت هم ولري ، دعسکري په جريان کې يې خامخا له لاسه ورکوي .

همدارنگه دکانکورله ازموينې څخه پرته پوهنتون ته دزده کوونکو داخلول دلوړو مقاماتو قانوني صلاحيت وگرځيد چې په نتيجه کې يې دپوهنتون څخه ناپوهنتون جوړکړ.

دغوايي له کودتا څخه وروسته روسانو هغه چاته قدرت اومقام سپاره چې ددوی دهيڅ پلان اواقدام مخالف نه ؤ بلکې دهغوی په عملي کولو کې به يې خپل وس هم نه سپماوه نوبې اکثراً هغو چاته لوړې چوکۍ وسپارلې چې يا خو بې سواده ؤ اويا بې تحصيلي اوعلمي سويې خورا ټيټې وې .

ددې دپاره چې ديوې خوا يې نوموړي غلامان راضي ساتلي وي اودبلې خوايې ورته مصنوعي اوتوريته ورکړې وي دشپو ليسو سربيره دشپې پوهنتون هم جوړکړ، په دی پوهنتون کې دنوموړواشخاصو لپاره دنوم ثبتول ضروري ؤ خوحاضري اوزده کړه ترديې دمه پورې دبرياليتوب اودډيپلوم دلاس ته راوړلو معيار ندی ، په دې ډول سره يې ښوونه اوروزنه اوزموږدگران وطن اوولس ټول ارزښتونه خاورې ايرې کړل .

٥- په نظامي اړخ کې:

روسانو دغوايي له کودتاڅخه وروسته په افغانستان کې دپټوپوليسولويه دستگاه جوړه کړه چې په لومړيووختوکې خدمات اطلاعات دولتي (خاد) ونوموړ شه اواوس ورته وزارت امنيت دولتي (واد) وايي.

ددې خطرناکو پوليسو ښوونه اوروزنه دهيواد په داخل کې ددوو تعليمي مرکزونو(پوهنتونونو)

اویوشمیر ازادو کورسونوپه اړوند سرته رسیږي ددغو تعلیمي مرکزونو څخه یو د (کابل تعلیمي مرکز) په نوم د (واد) کارکوونکو دښوونې اوروزنې هغه مرکزدی چه پکې داستخباراتو پوهنځۍ، باندیتیزم پوهنځۍ اوداستخباراتو باندیتیزم، کریمنالستیك، مارکسیزم، لیننیزم (کمونیزم) اوسپورت کافدراګانې (ډیپارټمنټ) وجودلري اوهرکال په سلګونو محصلین ترې فارغ کیږي چې ښوونه اوروزنه یې دروسي اوداخلي استادانو له خوا په ګډه صورت نیسي .

دنظامي تعلیمي مرکزپه نوم چې دمختلفو پوهنځیو لکه پیاده، زرهدار، مخابره، توپچي، استحکام اولوژستیك څخه جوړشوی اوهرپوهنځی دخپل مسلك، سپورت اومارکسیزم، لیننیزم (کمونیزم) کافدراګانې لري هرکال په سلګونوفارغان نوموړي وزارت ته وړاندې کوي ددې په څنګ کې دسیاسي،روغتیا، تعقیب او نوروسلکونولپاره داوږده اولنډ وخت کورسونه پرانستل کیږي .

دنوموړو محصلینو لپاره ښستمیزتکي دادي چې په هرډول اوهره شیوه چې وي دهیڅ ډول فاجعه امیز، بشري ضداو پست عمل څخه باید ډډه ونکړي خوورسپارل شوې دنده اوهدف حتماً ترسره اولاسته راوړي.

نوموړي محصلین ناانسانان روزل کیږي څوچې روسانوته دخدمت په لارکې بایدبل هرڅه څخه مخکښ واوسیږي .

دکورنیو چاروزارت« دڅارنلوی اکاډمي» په نوم نظامي مؤسسه چې پکې ډول ډول پوهنځۍ وجودلري هرکال په سلګونو فارغان لري . همدارنګه داردو (دفاع وزارت) حربي پوهنتون اودنوموړووزارتونو دزده کوونکو اومحصلینوحالت هم ددولتي امنیت وزارت محصلینوته ورته دی .

٦- دسوادزده کړې کورسونه :

دغوایي له کودتا څخه وروسته دسواد زده کړې تش په نامه کورسونه پیل شول اما دنوموړوکورسونوڅخه دفارغ شویو کسانو له جملې څخه په ګوتوشمارفارغان هم لوست اولیك نه شي کولی.

ددې پلان اوپروګرام په کاراچولو څخه دروسانو اوددوی مزدورانو سیاسي هدف داؤچې دبې سوادانوباسواده کول به ددوی دانساني فطرت اوترقي ضد نظریاتو دقبلولو سبب شي اولکه څنګه چې نویو اوتنکو ځوانانو ته زردوکه ورکول کیدای شي همداسې به پرعوامو هم خپل نظریات قبول اودلاس اله به یې وګرځوي خوداسې ونه شول .

دهیواد په ځینو ښارونو په تیره کابل کې د دولتي مؤسسو اجیرانو

دغوایي له کودتاڅخه وروسته دروسانو پواڅي هغه چاته قدرت اومقام سپاره چې ددوي دهیڅ پلان اواقدام مخالف نه وه او دهغوي په عملي کولو کې به یې خپل وس هم نه سپماوه.

ځخه چی سپین ږیري،ځوانان،نابالغ هلکان ، زړې اوځوانې ښځې اوپیغلې پکې شاملې وې گڼکوړسونه جوړکړل .نوځکه دسن اوجنس توپیرونو دسواد زده کړې پروسه اخلالوله.داکوړسونه چې په اونۍ کې څوځله په رسمي وخت کې پرانستل کیږي په خاص ډول سره یې داجیروکارگرو اونوروتولیدي مؤسساتو په تولیدي حجم کې لږوالی رامنځ ته کړ.

روسانو اومزدورانویې دې ته ملاوتړله چې دافغانستان په ټول ولس باندې پوره حاکمیت پیداکړي اودایې په نظرکې نه راتلل چې په دې دنگو اوآسمانڅوکو غرونو کې ژوندکولو یوه نسبنه داده چې دوی اصلاً په ټول تاریخ کې غلامۍ ته غاړه نه ده ایښې اوهیڅ باندینی اوکورنی قدرت په دې نه دی قادرشوی چې هغوی په بشپړ ډول سره ترخپل تسلط اوارادې لاندې راولي .

دسواد زده کړې په دغو کوړسونو کې یې ټول سپین ږیري اوبې سواده ځوانان شامل کړل اوپه لومړي سرکې یې په یوشمیر کلیوالي منطقو کې دښځواوپیغلو مجبورولو ته هم اقدام وکړ خوډیر زردجدي عکس العمل سره مخامخ شول اوپه اکثروکلیو اوبانډوکې یې سم دلاسه ورځخه ډډه وکړه .

دکلیو اوبانډو دسواد زده کړې کوړسونوعجیبه منظره جوړوله ،کله به چې سهاروختي نوموړي کوړسونه پیل شول نوهغه بزگران کوم چې دخپلو یویو (قلبو) سره ځخه لرگي اوبوتې راوړل دبډریژو(رسوح) سره به یوځای په کوړس کې کینولوته مجبورشول ، شپانه ، غوبانه او اوښبانه ورسره په غضب اخته شول همدارنگه هغوسپین ږیرو ته چې په سترگو یې ښه نه شول لیدلی ډیرفشار اوتکلیف وُ.ډیره دپاملرنې وړخوداهم ده چې دکلیوالو اوبانډیچانو لپاره داډیره سخته تمامیدله چې دبل چا په امرناسته

به یو ځای دخپلو کرځمکو په لورروان شول نوبه سم دلاسه کوړس ته راوگرځول شول اودکوړس له ځنگه به دژغونو ، سپارو ، بیلونو اوتخمونو ټوپې اوانبارونه جوړشول اوهغوی چې به دغرونو اوورغونو اوولاړه وکړي ځکه چې په یو شمیر منطقو کې اکثریت وگړو اوپه نوروکې هیچا دداسې عمل سره اشنایي نه درلوده اما دې جریان په کلیواوبانډو کې دوام ونکړ اودځو میاشتو له تیریدو وروسته یې

پرروسي مزدورو قواؤ بې ساري برغلونه پيل کړل چې په نتيجه کې يې له يو شمير ښارګوټوڅخه ټوله افغاني خاوره پاکه اوآزاده کړه اودسوادزده کړې تش په نامه کورسونه په دولتي مؤسسو پورې محدود کړی شول .

دنوموړوکورسونو نيمګړتياوې نورې هم ډيرې اوبې شميره دي. دمناسبو اومسلکي ښوونکو نشتوالى (ترديې چې حتى يوشمير ښوونکي ربښتيني بې سواده ؤ) دکتابونو ، تختو اوتباشيرونو، دښوونې مناسب ځاى نه درلودل ټولې هغه نيمګړتياوې دي چې نوموړي کورسونه ورسره لاس په ګريوان ؤ .

روس اوددوی مزدورانودسپين سرواوسپين ږيرو لپاره دسوادزده کړې په کورسونوزورواچاوه خودمکتب ورکوچنيان يعنې هغه چې سن يې دمکتب لپاره برابر اومناسب ؤ بې زده کړې اوبې مکتبه ګرځيدل اوپه اوسني حالت کې هم دمزدوررژيم ترتسلط لاندې ښارګوټو کې داپروسه جريان لري.

۷-دباندنيو هيوادوته زده کوونکواومحصلينوليږل:

داثابته شويده چې په اقتصادي اوتخنيکي لحاظ پر مخ تللو هيوادونو په تعليمي مؤسسو کې دوروسته پاتې ساتل شويو هيوادونو دزده کوونکو

> دسواد زده کړې په دغو کورسونو کې ټول سپين ږيري اوبې سواده ځوانان شامل کړل اوپه لمړي سرکې يو شمير کليوالي منطقو کې دښځو اوپيغلو مجبورولو ته هم اقدام وکړ خوډير زردجدي عکس العمل سره مخامخ شول اوپه اکثرو کليو وباندوکې يې سم دلاسه ورڅخه ډډه وکړه.

اومحصلينوقبلول دنوموړوهيوادونو په ګټه اوددې لارې څخه په وروسته پاتې ساتل شويو هيوادونوکې دخپلو سياسي اوشيطاني اهدافو په ترلاسه کولو کې ورڅخه کاراخلي خوپه تيره بيا روسان ددې شيوې څخه په ډيره بې شرمۍ سره خپل استعماري اوشيطاني اهداف پرمخ بيايي .

روس ته دافغاني محصلينو لومړۍ ډله دامير امان الله خان دزمامدارۍ په وخت کې پيل اودمحمد ظاهرد ټولواکۍ اومحمد داؤد دفردي رژيم په دوروکې يې افراطي بڼه غوره کړه چې په نتيجه کې يې ټولې نظامي اوغيرنظامي مؤسسې په روسي اجنټانو ډکې کړې اوپخپله يې دځانونو دورکيدو اودافغانستان دبربادۍ تخم وشنده. کله چې دغوايي له کودتا څخه وروسته دروسانو تربيه شويو اجنټانو ته سياسي قدرت نقل شواوبيا لږڅه وروسته کله چې روسانو دخپلو وحشي لښکرو په واسطه پر افغانستان تيرى وکړ بيا نو هغه پرده هم وشکيده کومه چې په يوستوي مزي تړل شوې وه اودښوونې اوروزنې په اړوند يې لاندنی حالت ځانته غوره کړ.

روس ته هرکال په زرګونو محصلين داستخباراتي اونظامي زده کړې لپاره ددولتي امنيت وزارت ، کورنيو چارو وزارت اودفاع وزارت په سلسله ليږل کيږي ترڅو دجاسوسي اوروسانوته دمزدوري کولو دلا رو چاروپه

اړوند زده کړې وکړې ددغو محصلينو لپاره هم دملکي محصلينو په څير تړول هغه څه تياردي کوم چې دانسان په گمراه کولو اوښکيل کولو کې مرسته کوي لکه د(کی ، جی بی) لخوا ورته دښکلو ځجونو استخدام ، دقاچاقي مالونو دراکړې ورکړې دزمينو برابرول اوددې لارې څخه دلازموپيسو لاس ته ورتلل ، په افغانستان کې ورته دلوړو مقامونو چپول اوداسې نورې ډول ډول طريقې چې دلته موده‌غوی تشريح له اصلي موضوع څخه لېرې کوي.

که چيرې دغو لارو چارو نتيجه ورنکړه بيا خو تهديد هم شته اوکه داهم گټه ورتمام نه شو نوداډول محصلين ورته د(سی ، آی ،ای) اجنتهان اويا درواني تکليف درلودونکي ښکاري اوپه دې توريې متهموي.روسانو دوروستيو دوولسو کالوپه جريان کې په لسگونو زره کوچنيان چې عمريې دڅلوروکالوڅخه نيولې ترلسو کالوپورې رسيده دافغانستان څخه خپلې امپراتورۍ ته يووړل داچې په نوموړوکوچنيانو څه کوي اوراتلونکې به يې څنگه وي روسان هيچاته په دې اړوند دپوښتنې اودخالت اجازه نه ورکوي امادهغوی دژوند يوه اړخ ته اشاره به زموږسره دهغوی دراتلونکې په هکله څه ناڅه مرسته وکړي هغه داچې دهغوی خپلې مورنۍ ژبې هيرې شوې اويوازې په روسي ژبه تکلم کوي اوتړو ل په عسکري کاغوشونو ورته کوتړو کې شپې اوورځې تيروي اکثريت ځجوني اوهلکان په اوسنۍ مرحله کې بالغ اويو شميردبلوغت په درشل کې قرارلري اودناوړه جنسي امراضو او انحرافاتو ښکارگرځي.همدارنگه ددې کالونو په جريان کې کله چې داکوچنيان دافغانستان څخه وړل شويدي تردې دمه پورې افغانستان ته درخصتۍ تللو اجازه نه ده ورکړشوې .

داکوچنيان خوزموږدښکلي بڼ گلان ؤ نوبه دکوم افغان هيرشي چې اوس روسان لگيادي زموږدپښو ازغي ترې جوړوي .

هغه زده کوونکي چې روس اودروسانو ترسلطې لاندې هيوادونو ته دلوړوزده کړوپه نوم ليږل کيږي دپوهې اوسن په اړوند کوم معيارنلري دورونه نيولې بياتريوڅاگانو پورې بې له ازموينې اودمکتب دنمرو دځرنگوالي څخه تللی شي په دې شرط چې ياخو دگوند اودولتي لوړرتبه مامورينو ته کومه لارجوړه کړي اويا روسانو اودروسانو مزدورانوته کوم په زړه

پورې مطلب پکې نغښتی وی .

کله چې نوموړي زده کوونکي ، دولتي مامورين اونورښې سوادان دلنډې اويا اوږدې مودې زده کړې لپاره دلمړي ځل لپاره دروس په کمونستي امپراتورۍ کې پل کيږدي نود (کی ، جی ، بی) له خوابې څېړنه پيل شي .

روس ته هر کال په زرګونو محصلين د استخباراتي اونظامي زده کړې لپاره د دولتي امنيت وزارت، کورنيو چارو وزارت اودفاع وزارت په سلسله ليږل کيږي ترڅو دجاسوسي اوروسانو ته دمزدورۍ کولو دلارو چارو په اړوند زده کړې وکړي.

په نويو زده کوونکو باندې لومړی کال دتياري دکورس په نوم چې روسي ژبه اونورعمومي معلومات پکې ښودل کيږي لولي

نوددې کال په اوږدو کې دهرمحصل خصوصيات پيدا کوي اوبيا په هغه ځانګه کې چې دروسانو دګټو دښه ساتلو امکانات يې زيات وي ددوی دپلان سره سم يې تربښوونې اوروزنې لاندې نيسي.

هغه مسلکونه اوځانګې چې دباندنيو هيوادونو محصلين په ظاهري ډول پکې داخلېږي دروسانو لپاره په زړه پورې نه دي اوهيڅ يو محصل هم دنمونې په ډول دبې لياقتي اوناپوهی په وجه نه ناکام اونه دکوم پوهنتون څخه منفك اوخارج شويدی ، په روس کې دباندنيو هيوادونو دمحصلينو په منځ کې دضرب المثل اويوې ټوکې په بڼه چې په واقعيت کې رښتيا ده داخبره زياته تکرارېږي چې دروسانو په پوهنتونونوکې نوم ثبت کړه اوکالونه شميره نود تعين شوو کالونو دتيريدلو څخه وروسته ډيپلوم واخله خودامطلب دروسانو په اکثريت محصلينو کې دتطبيق وړنه دی بلکې دباندينيو هيوادونومحصلين په وړيا بريالي کيدلو ، دقاچاقي مالونو دخرڅلاو زمينو برابرول ، په فحشا اخته کولو اونورولارو چارو راضي ساتي په دې ډول سره دباندينيو هيوادونومحصلينو ته خواړه زهرورکوي نوځکه خوکله چې نوموړي محصلين خپلو هيوادونوته بيرته ستنيږي له زياترو هغو محصلينو څخه چې دمورنۍ ژبې سواد يې زده وي هم تريوه حده پورې هيروي اوبيوازې دروسانو داجنټهوري چارولپاره مناسب بارکېنې صفته انسان ترې جوړشي.لاکن په استثنا يې ډول سره کيدای شي چې محدودشمير دروسي پوهنتونونو فارغان هم په خپل مسلك کې لازمه پوهه ولري.

دپاملرنې وړخبره داهم ده چې دافغانستان له پوهنتونونوڅخه يوشميرهغه ليسانسا ؤته کوم چې دغوايي له کودتا څخه پخوا فارغ شوي ؤ روس ته دماستري پروګرام دويلو په نوم چانس ورکړل شو په داسې حال کې چې په روس کې دماستري پروګرام اصلاً وجودنلري اماتردې جالب مطلب دادی چې دکابل په لاسکينولی رژيم کې هغه چاچې په روس اويا هغوهيوادونوکې چې دروس ترسلطې لاندې دي پنځلس کاله تحصيل کړی وي دماستر اوهغه چا چې داتلسو کالو تحصيلي سند يې لاس ته راوړی وي دډاکټر په سويه

قبلیږي په داسې حال کې هغه
څوک چې دافغانستان اوپا سرمایه
داري هیوادونو دعلمي اوفرهنګي
مؤسسوڅخه فارغ شوي وي
دپنځلسو کالو تحصیل یې
دبکلوریا څخه لوړ(مافوق بکلوریا
) شپاړس لیسانس اواتلس کلنی
تحصیل یې دماستردسویې څخه
لوړدقبلیدو وړندی. په داسې حال
کې چې په یوشمیر هیوادونو کې
دتحصیل ډول ډول څیرې وجود لري
چې دکالونو په شمارپورې اړه نلري
لکه دکریډیټ سیستم ، دسویې
ازموینې ته ورته سیستم چې
حاضري پکښې مطرح نده اوداسې
نوردرسي اوتحصیلي سیستمونه
وجودلري اما په روس اوددوی
ترسلطې لاندې هیوادونو کې ذکر
شوي درسي اوتعلیمي سیستمونه
اویا هغوی ته ورته سیستمونه هم
وجودنلري خودروسانو داعادت

ګرځېدلی دی چې خپل ټټودبل چا
له آس سره برابر بولي .
داوه دروسي کمونستي استعمار
دوحشت اوبربریت بله بیلګه چې
زموږځوریدلی ولس یې په علمي
اوفرهنګي اړخ کې په بې ساري
ډول شاته کړاوزموږټولنه یې ددې
غیرانساني ښوونې روزنې ناوړه
اغیزو سره په سلګونو کاله لاس په
ګریوان وي. سره ددې چې دافغاني

● روسانو اومزدورانو یې دې ته ملاوتړله چې دافغانستان په ټول ولس باندې پوره حاکمیت پیداکړي اودایې په نظر کې نه راتلل چې په دې دننګو اوآسمانڅوکو غرونوکې ژوندکولو یوه نښه داده چې دوی اصلاً په ټول تاریخ کې غلامۍ ته غاړې نه دې ایښې.

مهاجرینو په کمپونو کې
دملګروملتو ترپروګرام لاندې یو
شمیر ښوونځي پرانستل شوي
اودافغانستان په آزادو شویو
منطقو کې دمجاهدینو په همت
دتوجه وړديني مدرسې اوښوونځي
پرانستل شوي دي خو دیوې خوا
دکابل دګوډاګي رژیم دهوایي
بمباریو وحشت اودبله اړخه
دمجاهدینو دمالي اونورو ربړونو له
درکه دډول ډول مشکلاتو سره
مخامخ دي نوترڅو پورې چې په
افغانستان کې رښتینی خپلواک
اسلامي حکومت رامنځ ته نشي
دقناعت وړښوونې اوروزنې
امکانات په لازمه توګه نشي
برابریدلی .



راغلي ليکونه

دالمان ښځه یو لیك :

دمجلی داداری په نوم دالمان ښځه محترم الحاج اخترمحمد باختری یولیك رالیږلی چی موږ یی سلامونوته دوعلیك ویلو اوپیشنهاداتو دمنلو اوهغوی ته دعملی جامی دوراغوستلو په نیت یی کټ مټ خپروو:

*** *** ***

برادران مجاهد ومبارز؛اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

قبل ازهمه استدعای من ازرب العالمین اینست که همه ما وشما راشامل رحمت خود ساخته وهمانطوریکه درجهاد بالشکرسرخ شوروی پیروزی رابه مجاهدین اراده کرد ، دروضع سیاسی موجود نیز اراده خیرفرماید.

ناگفته نباید گذاشت که ارسال مجله منبع الجهاد واخبار« جهاد هنداره » ماراخیلی ممنون ساخته وبدینوسیله مراتب سپاسگذاری وممنونیت خودرا بمدیریت نشرات تقدیم داشته وموفقیت مزید شما را در امراجرای وظایف فرهنگی متمنی ام .

برادران مسؤل فرهنگی که وجوبیت وظیفه خود را درك کرده وحساسیت زمانی رامدنظرگرفته ، بعد از پیروزی شمشیر قلم رابدست گرفته اند ، نشانه از اگاهی عمیق انها بوده وانشاالله جای امید واری است که باهمت همچون برادران خود اگاه ومسؤلیت شناسی نه تنها مسایل اسلامی بلکی مسایل اجتماعی باتمام تفرعات ان که اسباب دوستی ودشمنی ، صمیمت ونفرت ، دوری ونزدیکی انسانها رافراهم میکنند ، نشر وپخش کنند.

تاان عده اشخاصیکه این عوامل راقابل اهمیت نمیدانند ویا اصلاً به بودن وتاثیرات ان متوجه نیستند ، اگاهی پیداکنند وبه اهمیت غیر قابل انکار ان پی ببرند . به همه ماوشما معلوم است که جهان امروز با جهان دیروزخیلی درابعاد خود فرق کرده ومابابد وباناچارهستیم که این تغیرات وتحولات رادرسنجش های خود مدنظر بگیریم ومطابق مناسبات وشرایط امور خود را عیارسازیم یعنی که تغیرات مناسبات سیاسی ، اقتصادی ، فرهنگی ونظامی اشکال تازه یی رابه جامعه بشری بخشیده است که این تحول راهرکدام ما درنفس خود تشخیص کرده فکر وقضاوت جدید ترنسبت به سال های اول جهاد پیداکرده ایم .

انسان امروز ازحالت بیطرفی وبی تفاوتی برامده وحالت موضع گیری رابخود گرفته است اگردرسابق کسی راجع به حکومت وحکومت داران حرف میزد ،برایش گفته میشد که تورابه این کارها چه غرض ، توغریب ادم هستی پشت غریبی ات برو ویا اصلاً خودش هم این حق مداخله وانتقاد رابخود نمیداد.

امروز هرانسان صرف نظر ازمسلك ووظیفه وحرفه اش درمسایل سیاسی موقف خودرا ظاهر میسازد ونظرخود را ابراز میدارد ودریافته است که درسیاست حکومت سرنوشت خودش شامل میباشد وتعین ان راحق خود میداند .

این اگاهی مربوط به سواد نیست علاقه وسهم گیری مردم درمسایل درذات خود کسب معلومات بوده واشخاص رااگاهی می بخشد بادرنظر داشت این اصل برای خود امیدواری پیدامیکنیم ویا امیدواری پیدامیشود که مردم ماا گر باسواد نیستند اگاه هستند ودرجریان قراردارند.

جای مسرت است که درهرتنظیم کمیته های فرهنگی بافعالیت تام مردم خود را درجریانات سیاسی داخلی وخارجی قرارمیدهند ولی یك چیزرادرنشرهراخباربابد فراموش نکنیم که بهراندازه صاحب دانش ومعلومات باشیم ، ازمسایل سیاسی جهان اگاه ومطلع باشیم ، پیش گویی ها وپیش بینی های ماهم دراکثر موارد صدق کند مسایل راخوب تحلیل وتجزیه کرده بتوانیم ، بی ارزش خواهد بود اگرمامشکلات داخلی خود را تشخیص نداده ودرراه حل ان نکوشیم ویا اقلاًنظرخود را اظهار نکنیم.

اگرما علاوه برهفته نامه ها وماهنامه ها ، روزنامه ها هم داشته باشیم وبا تیراژ وسیع وپرمحتواهم نشرشوند ،بی محتوا خواهد بود که ازاتحاد وتشویق به اتحاد وراههای رسیدن به این مامول حرف نزنیم.

مااگر دراخبار خود راجع به ممالك جهان می نویسیم واین وان راطرف انتقاد هم قرارمیدهیم متوجه باشیم که نگویند

(کورخود وبینای مردم) هستیم
کمیته های فرهنگی تاانوقت
مسوولیت خودراادا کرده،
نمیتوانند که سعی وتلاش شان
تنها دران باشد که مضمون تهیه
کنند وزود تربه نشر ان اقدام
کنند وبایکدیگر رقابت ، برابری
وبابرتری پیداکنند وتنظیم
هاهم مباهات کنند که نشرات
اونسبت به دیگری ویا دیگران
بهتراست ونویسنده هم دل خوش
کند که سطح دانش وبلندی
فکرخودرا درروی کاغذ نمایان
ساخته است .
من شخصاً خوشبختی
وخوشوقتی خودرا درارتباط
بانشرات وافزونی نویسنده گان
جوان بادرك وبافهم نمیخواهم
بپوشانم ومترادف به ان
حاضرنیستم که دریك مورد
سکوت کنم ویا ازتشویق انها
خود داری کنم وان اینست که
امروزوطن ما نسبت به هروقت
دیگربه اتفاق ضرورت دارد .
رقابت تان درتیراژ وزیادی
صفحات ویا مضامین رنگارنگ
نباشد ، رقابت تان درخلق یك
فضای صمیمیت واخوت وتلاش
تان درتشنج زدایی باشد نه
درتشنج افزایی . درهرمضمون
وهراخبارتان باید اقلاً یك بحث
ازاتحاد داخل باشد وبه مردم
مجاهد افغانستان خطاب کنید
که « بدون اتحاد ازادی نیست و
بدون ازادی اسلام نیست ».
باوجودیکه میدانم این چیز
جدید واختراع تازه نیست که
من ان راکشف کرده ام وشماازان
بی خبر هستید .
بنابر دوعلت این رانوشتم یکی
انکه همه مهاجرین تلخی زندگی
رادرعالم غربت وبیگانگی
چشیده اند وکام تلخ انها
رادرهرجاکه هستند بجز اتحاد
تنظیم های مجاهدین وپیروزی
انها به رژیم کابل هیچ چیز
دیگروهیچ خبردیگر بجزهمین
شیرین کرده نمیتوانند.
.دوم اینکه اتحاد راکسی بمیان
اورده میتواند که بی اتفاقی
رابمیان اورده است .
ومن الله التوفیق
الحاج اخترمحمد باختری
*** *** ***
همدارنگه دضلع بنو تحصیل
اوداکخانه میرامشاه ځخه احمد-
ظاهر« ننګیار » دضلع بنو
تحصیل داکخانه میرامشاه
فدامارکیټ ځخه احسان الله
احسانی دضلع بنو تحصیل
میرامشاه نورمحمد مارکیټ
ځخه نورعلی جان « شیرانی »
دمجلی داداری په نوم لیکونه
رالیږلی،دي ورونو دمجلی
دمحتوا اوکیفیت دستایلو
ترڅنګ دمجلی دادبی صفحی
په خاطر شعرونه اولندۍ هم
رالیږلی چی ورته نشریه بی
کړ و .
دپبو کمپ دبازار ځخه محترم
ورونه سیدمحمد جان کنړی ،
گل زمان،میرحسن خان
اودوکاندار سیدزمیر گل دمجلی
داداری په نوم رالیږلی لیك کی
ترسلامونو وروسته لیکی :

« تاسو چې پخپله مجله کې دلنډو کیسو کومه سلسله پیل کړې ډیره عالي ده اوخدای دې وکړي چې جاري يې وساتې ځکه چې داډول لنډې کیسې خلك زياتې خوښوي اوموږچې کله ستاسو لخوا خپرې شوي لنډې کیسې ، شليدلې جامې ، ملکوتي نعره ، پوښتنه يې مه کوه ، ورکې لارې او... ولوستې دومره زيات تأثیر یې راباندې وکړ چې هغه حالت دقلم په څوکه نشوبيانولی »

همدارنګه دپيښور دیونیورستی تاون دجامعة دعوة والجهاد څخه محترم وروعبدالولي « خاکسار » دضلع بنو تحصیل میرامشاه ډاکخانه دتپه خیل دمعبرپادشاه میرله سرا ی څخه محترم ورونه ایمان گل اودیدن گل ، دصوبه سرحد دباجوړ ايجنسی ډاکخانه راغگان دراغگان بازار څخه زاهد الله زاهد دمجلې داداري په نوم دراليږلوليکونو په ترڅ کې ترسلامونو وروسته دوی ته دمجلې دنه رسيدو شکايت کړی ، موږدوی ته دمجلې دورليږلو داډ ورکووواوسالمو پيشنهاداتو ته يې سترگې په لاريوو.

دصوبه سرحد دضلع پيښور تحصیل نوښارددارالعلوم حقانیه اکوړي ختك څخه محمد سعید « سعيدي » دضلع پيښور تحصیل نوښار ډاکخانه اکوړي ختك ددارالعلوم حقانيه اکوړي ختك څخه محمد اکبر اوولي خان دضلع ايبټ اباد ، تحصیل هريپور ډاکخانه غازي دشمع کلاتهرهاوس څخه عبدالحکیم شاه « فرماني » اوددارالعلوم حقانیه اکوړي ختك څخه محترم وروردرويش دمجلې داداري په نوم په راليږلو ليکونو کې ترسلامونو اودمجلې دمضامینو اوښه صحافت ترستايلو وروسته دوی ته دمجلې دنه رسيدو شکايت کړی ، موږ ددې ترڅنګ چې دې ورونو سره داژمنه کوو چې مجله به ددوی په ادرسونو ورليږو ددوی قلمي همکاري اووړانديزونو ته سترگې په لاريوو.

همدارنګه دملا کنډ ايجنسي درگی کمپ دالهجرت والجهاد دمدرسې زده کوونکي عبدالصبورپنا غلي «دمنبع الجهاد» داداري په نوم راليږلی ليك کې، ددغه اداري کارکوونکو ته سلامونه ويلي اوضمناً یې دنشر لپاره دعبدالله بن مسعود (رض) کيسه اويو انتخاب کړی شعر راليږلی چې موږ دلته دهغه د انتخاب کړی شعر څوبیتونه رااخلو :

تره کی څه شو امين څه شو
ببرك څه شوآخر
نجیبه ستاحال همداشان سرنگون
ښکاري
خلق اوپرچم نورختم شوی دی
بقا نلري
ان په مسکو کی نن رسوا راته
کمونن ښکاري

ابدي ژوندي

شهید گل بت شاه

شهید گل بت شاه دعمرشاه زوی دپکتیکا ولایت دگومل ولسوالۍ دشکینی په کلی کې زیږیدلی اوپه قوم خروټی ؤ.

نوموړی دروسانو دراتګ سره جوخت په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کې یې ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

چې بالاخره د۱۳٦۹ کال دمرغومی میاشتی په (۹) نیټه دخوست ولسوالۍ دشهید کلی سره نږدې دملحدینو سره په مخامخ نښته کې دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون



شهیدمحمدابراهیم

شهید محمد ابراهیم دلعل محمد «کوچی » زوی د(۱۳۵۱) کال دننګرهاولایت دروداتو ولسوالۍ دسنګینی په کلی کې،یوی دینداری کورنۍ کې سترګی غړولی .

درو داتو په ولسوالی کې ابتدایی زده-کړې کړې اودثورتر کړغیرنی کودتا وروسته یې دهجرت لارونیوله اودتعلیماتو دبشپړیدو په خاطر یې دښوونځی خواته مخه کړه .

شهید ابراهیم دجهادسره خاصه مینه درلوده اوهروخت به یی په جهاد کې برخه اخیسته چی بالاخره د(۱۳٦۹) کال دجوزا په میاشت کې دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید محمد علی خان

شهید محمد علی خان دمولوی محمد نبی زوی چې په ۱۳۳۰ هـ ش کال دپکتیا ولایت دزیږوک علاقه داری دورژانه په کلی کې زیږیدلی .

په ۱۳٦۵ هـ ش کال کې یې دکمونستانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی او دجهاد په دوران کې یې ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

بالاخره دغه زړورمجاهد ذاورګون په ولسوالۍ کې دملحدینوسره په یوه مخامخ جګړه کې دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید پیردل خان

شهید پیردل خان دلاجی خان زوی چی دپکتیا ولایت دزیروك علاقه داری په ورژانه کلی کې زیږیدلی.

دثور ترکرغیرنی کودتا وروسته یې وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کې یې ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

چی بالاخره دغه زړورمجاهد دارگون ولسوالی درانی په جګړه کې دروسانو له خوا دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید شیرعلی خان

شهید شیرعلی خان دملك لالازوی دننگرهارولایت دکړی ولسوالی کې زیږیدلی اوپه قوم شیرزاد ؤ.

نوموړی دمولوی جلال الدین حقانی مربوط دحضرت عمر (رض) په غنډ کې دلوژستیك دمامور په صفت په ډیره ایمانداری سره وظیفه اجراکوله چی بالاخره دغه نومیالی مجاهد د۱۳۶۹ کال دمرغومی په (۲۶) نیته دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید صباح الله

شهید صباح الله دحیات الله زوی دپکتیا ولایت په مرکز گردیز کې زیږیدلی اوپه قوم تاجك ؤ.

دغه نومیالی مجاهد دمولوی جلال الدین حقانی مربوط دحضرت عمر (رض) په غنډ کې دمامور په حیث وظیفه اجراکوله اوزیاتره وخت به یې دجهاد په گرم سنگرونو کې تیراوه چې بالاخره دغه زړورمجاهد د۱۳۶۹ کال ددلوی میاشتی په(۹) نیته دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید مایل شاه

دحق دلاري دزړورواوتکړه مجاهدينو په ډله کي چي خاص دخداي (ج) درضا په خاطريي وسله وال جهاد پيل کړي اووياړلي جهادي کارنامي به يي زموږ داسلامي انقلاب په تاريخ کي دتل لپاره په زرينو کرښو ثبت وي يو هم مايل شاه دحاجي محمد افضل زوي ؤ .

نوموړي په ډيرو جهادي عملياتو کي برخه اخيستي اوهرځل يي پردښمن مرگوني گوزارونه کړي دي .

بالاخره دغه نوميالي مجاهد د (۳۲) کلونو په عمر ددښمن له خوا دايښودل شوي ماين دچاوديدو له امله دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

انا لله وانا اليه راجعون

شهيد نصرالله خان

دحق دلاري دنوميالیو مجاهدينو له جملي څخه يو هم نصرالله خان مشهور په گيډي گل دحاجي زريم خان زوي ؤ .

نوموړي په ۱۳۴۸ هـ ش کال په زده کړه پيل کړي ؤ.

اوکله چي په افغانستان کي دملحدينو پر ضد وسله وال جهاد پيل شو دوسله وال جهاد سنگر ته يي ورودانگل،په ډيرو جهادي فعاليتونو کي يي برخه واخيستله چي دلته يي دنموني په توگه دخوست ، ارگون اوبري دجگړو يادونه کوو.

بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ۱۳۶۷/۱۰/۲۶ نيټه ددوشنبي په ورځ دزيړ باڼدي دلويي قرارگاه دفتح کولو پروخت دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

انا لله وانا اليه راجعون

شهيد احمد جان

دنوميالیو مجاهدينو په ډله کي چي خاص دخداي (ج) درضا اواعلاي کلمة الله په خاطر يي وسله وال جهاد پيل کړي يوهم احمد جان دنورمحمد زوي دپکتيا ولايت اوسيدونکي ؤ.

نوموړي په ډيروجهادي عملياتو کي برخه اخيستي اوله نورو مجاهدينو سره يوځاي يي پردښمن باندي مرگوني گوزارونه کړي اوډيري فتحي يي په نصيب شوي دي.

بالاخره دغه نوميالي مجاهد د۲۶کالو په عمر دخداي (ج) درضا په لارکي دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

انا لله وانا اليه راجعون

بسم الله الرحمن الرحيم

ارشاد نبوي

ترجمه : عبدالرحمن بن سمرة (رض) گفت که انحضرت (ص) برايش فرمود ، طالب حکومت وماموريت مشو ، اگر مقام ماموريت دراثرخواسته ات داده شود ازطرف خداوند (ج) معاونتي همرايت نخواهد شد واگر آن مقام بدون طلب برايت اعطا شود معاونت خداوند(ج) نيز باشما همراخواهد بود .

بخاري ، مسلم ونسايي

په خوست کې د مُصلي په نوم د دښمن يوه پوسته چې د مجاهدينو د درنو وسلو د
ډزو په نتيجه کې يې لمبې او لوگي فضا ته پورته شوي دي .